

2 - APR 16
Copy ____ 1958

د ۱۳۳۶ کال دجدی (۱۵)

د۱۳۷۷کال دجمادی الثانی(۱۴)

د۱۹۵۸ ع کال دجنوری (۵)

په دی گڼه کښی:

Jan. 5, 1958

پښتو ټولنې ته دیوی اکاډمۍ

په حیث* ژبه او حرکـات *

د شېدو مجنون که ...؟ *

دلېوه مرک * چاړه اوستن *

- د استاد حمزه په ... *

څو*سوسیالستی* ښونځی په....*

پښتا نه دنورو په نظر کښی *

د ژبی سپېڅلتیا* کتاب :

د بنگ مسافری

ولولیء

پر له پسی گڼه (٤٤٨)

بی زړه

دایمان ځای زړه دی، او دی بې زړه دی.

چه وړو کی و له شیشکو او پیریا نو دار ېده، چه لږ غوندې لوی شود د ملا صاحب له ډاره په سبق نه پوهېده.

په کور کښې دادې ډارؤ او دباندې د دادا.

اوس چه لوی دی د خان ډار، د ملک ډار، د حاکم ډار ئی په زړه کښې ټینګ ځای نیولی دی.

په لار کښی ورسړه دغلوو وېره ده او په کور کښې دغلیمانو له وېرې خوب نه ورځی.

لویه خدایه! په کوم زړه کښی چه دغو مره ډېرې وېری وی ستا وېره ځای نه شی پیدا کولی. په دغسی زړه کښې ستا خوف ته ډېر لږ ځای پیدا کیږي، که ستا ډار او د ظالمانو ډار په پوه زړه کښې یوشان موجود وی، له دینه لویه ګناه بله نشته.

کشکی دوی یوازی له تا وېرېدلی او ستا د دښمنانو ډار ئی په زړه کښی نه وای.

د خلکو ډار ستا وېره په زړونو کښې کموی او ایمان ته زیان رسوی، ستا ضعیفه بندګان یوازی له تا نه نه وېرېږی له نورو نه هم وېرېږی، دوی اوس د زورو رو په مخکښی حق نه شی ویلی او ته د حق طرفدار ئې، ته په دروغو خپه کیږی او دوی له ډاره رښتیا نه شی ویلی.

ستا ظلم نه دی خوښ دوی له وېرې د ظالمانو خدمتونه او صفتونه کوی.

هغه مسلمان اوس چیرته دی چه یوازی له تا ډار ېږی او بس!

ستا بنده باید د ډار بنده نه وی او د نمرود له اوره ئی سترګه و نه سوزی.

(غوره نثرونه)

(۲۷ کال)

(۱۹) گڼه

کابل

پنځلس ورځنی مصوره

اجتماعی ، ادبی ، او تاریخی مجله

دامتیاز خاوند: پښتو ټولنه

دپښتو ټولنی مشر: گل پاچا «الفت»

مسئول مدیر ! م، د، «ژواك»

پته: کابل. نادر پښتون واټ دیل خشتی دیله مقابل دتیلفون نمبر (۲۱۲۹۱)

اوبه

خلك وائی چه اوبه له لوړې نه زوړی ته راښکته کېږی اوخپل لوړ مقام دپستۍ په مقام بدلوی، زه وایم چه داخبره رشتیاده ! خوزه داهم رشتیا گڼم چه اوبه له زوړی نه لوړې ته هم تلای شی اوځی او که نه نوداچه له لوړې نه زوړی ته راځی دا به له کومه شوی وای .

په همدې ډول واړه خلك لوئېږی اولوی وړېږی، د نن ورځې واړه د سبا ورځی لوی دی ای لویانو! ماته په وړو ستر گومه گوری !، زما دلیدو دپاره دخپلو تنگو ستر گو دا تنگی کړ کۍ ارتی کړیء اوماته غټ و گوری زه دومره وړو کی نه یم لکه چه تاسو ته ښکارم دا باورو کړی ! چه زه ستاسو ځای نیسم اوتاسو زما، اوس چه تاسو لوئې کوی ء دا زما برکت دی که زه نه وای داستاسو انتزاعی، موهومی اوانتسابی لوئې هم نه وه

«زین الله»

په تېره گڼه کښی پر له پسی لمبر
د ٤٤٦ پر ځای ٤٤٧ و لولیء

پښتو ټولنې ته د يوې اکاډمۍ

په حيث

داحق ورکړ شوچه ددې ټولنې مسلکي غړي شپږ علمي اوادبي درجې ولري

دا درجې له معنوي امتياز سره مادي حقوق هم لري

داکمار دپوهنې دښاغلي کفيل دکتور علي احمد پوپل په پيشنهاد اودملي ژبې دترقۍ غوښتونکي حکومت په خاصه پاملرنه چه مشرئ ښاغلي سردار محمدداؤد دی وشو چه تفصيل ئې دادی :

دپښتو ټولنې درياست له خوا د ۱۳۳۶ کال دسرطان په ۳۰ وا کمنې جرګې (عالي شورې) ته يو ۲۵ پيشنهاد وشو چه لنډ مطلب ئې دادی :

کوم کار چه له پښتو ټولنې نه د يوې اکاډمۍ په حيث غوښتل کيږي څه عادي او معمولي کار نه دی چه عادي اشخاص ئې سرته ورسوی .

ديوې ژبې علمي اوادبي ترقۍ ديوهانو اولويوليکوالو شپه او ورځ زيار او زحمت غواړي اودمسلکي اشخاصو تحقيق اوتتبع ته ضرورت لري . ددغسې کارسرته رسول دا ايجابوي چه څوتنه داستعداد اوقريحې خاوندان چه په پښتو کښې دادبي او علمي څېړنو اهليت ولري، شپه او ورځ په مطالعه بوخت وي او ډېره موده دغه راز معنوي لټون ته دوام ورکړي مګر داکار هله کيږي چه دپښتو ټولنې مسلکي غړيتوب يوڅه امتياز ولري اوددغو کسانو زيار اوزحمت مادتاً هم بې اجره اوبې ګټې نه وي .

دا پيشنهاد وا کمنې جرګې ښه وګڼله اود پښتو ټولنې مشرته ئې پدې باب کښې ديوې لايحې دترتيبولو اجازه ورکړه چه دمسلکي غړو علمي او ادبي درجې سره له حق الامتياز وناکې اودالايحه دوزيرانو عالي مجلس ته وړاندې شي هماغه ؤ چه لايحه وليکل شوه او وروسته له څوځله غور او دقت اصلاح اوتعديل څخه ديوهنې ښاغلي وزير دوزيرانو لوړ مجلس ته وړاندې کړه چه وروسته له ځينو تعديلاتو تصويب شوه اوبيا داعليحضرت معظم په صحه وړ سيده .

ددې لايحې منظوري دشاهانه دارالانشاء په نمبر ۱۲۹۱-۲۷ر۹ر۳۶ حکم صدارت ته ابلاغ شوه اودصدارت عظمى په نمبر ۶۹ر۴ر۱۰ر۳۶ فرمان ديوهنې دوزارت په سلسله پښتو ټولنې ته داجراء اوتطبيق دپاره راغله چه متن ئې دلوستونکو داطلاع دپاره خپروو :

دپښتو ټولنی دمسلکی غړو دمدارجو لایحه :

پښتو ټولنه دخپلې اساسنامې له مخې دیوې علمی او ادبی اکاډمۍ په حیث ښودل شوې ده او د نړۍ ځینې فرهنګی موسسې ئې په دغه نامه پیژنی.

ددې موسسې دانکشاف او ارتقاء له پاره یو څه وسائل په کار دی، چه د استعداد او قریحی دخاوندانو مخه دعلم او ادب خدمت ته راوګرځوی او د علمی او ادبی تحقیقاتو ددوام باعث شی په دغه ډول کېدای شی چه دپښتو ټولنې مسلکی غړی دعلمی او ادبی لټون په رڼا کښې په تدریج سره د اکاډمیک حیثیت پیدا کړی.

ددغه مقصد له پاره کوم کسان چه په پښتو ټولنه کښې علمی او ادبی وظائف سرته رسوی دا درجې به طی کوی :

۱- څیړونکی:

هغه څوک چه دپښتو ټولنې دمسلکی وظائفو دا جراء له پاره درسمی مامور په حیث په ابتدائی درجه منل کېږی باید ددې شرائطو لرونکی وی :

الف- دپوهنتون دلیسانس دپېلوم دې په اعلی یا عالی درجه ولری.

ب- دپوهنتون د تحصیل په وخت کښې ئې باید خپله ذکاء، دتتبع ذوق، او دابتکار قوه څه نه څه ښودلې وی.

ج- دشخصیت خاوند دې وی.

د- په پښتو کښې دې په صحیح ډول دلیکلو او وینا قوت ولری.

دغه شخص به یو کال دنامزدۍ دوره دمامور په حیث تېروی او وروسته تر هغه که دپښتو ټولنې دمسلکی وظائفو دایفاء له پاره مناسب وګڼل شو دڅېړونکی په حیث به په میاشت کښې (پنځه سوه) افغانۍ امتیازی معاش اخلی.

۲- څیړنیار:

چه څېړونکی اقلا درې کاله په پښتو ټولنه کښې د پښتو ټولنې د مرام سره سم مسلکی وظائف اجراء کړی او دکار دراپور له مخې ئې دپښتو ټولنې مسلکی مجلس چه دوه تنه افتخاری غړی هم په کښې وی، علمی او ادبی اهلیت او استعداد ومنی نو د (څیړنیار) په حیث په میاشت کښې (اته سوه) افغانۍ امتیازی معاش اخیستلای شی.

۳- څیړنمل:

- څیړنیار چه اقلا درې کاله مسلکی وظائف دپښتو ټولنې له مرام سره سم اجراء کړی او یو داسی علمی او ادبی اثر ولیکی چه دتحقیق او تتبع په لحاظ د (څیړنمل) د حیثیت دپیدا کولو دپاره په مسلکی مجلس کښې چه درې تنه افتخاری غړی هم په کښې وی کافی وګڼل شی نو د (څیړنمل) په حیث په میاشت کښې (یوزر) افغانۍ امتیازی معاش ورکول کېږی.

۴- څیړنوال:

څیړنمل چه درې کاله په پښتو ټولنه کښې مسلکی وظائف دپښتو ټولنې د مرام سره سم سرته ورسوی او په دغه موده کښې یو داسې اثر ولیکی چه له ابتکاره خالی نه وی او علاوه په دې ئې ددغې دورې په هر کال کښې اقلا دولس علمی یا ادبی مقالی لیکلی وی چه دپښتو ټولنې له خوا چاپ شوې

اوخپرې شوی وی نو که مسلکی مجلس چه څلور تنه افتخاری اعضاء هم په کښې وی د دغه خدمت په وجه دی د (څېړنوال) په حیث وپېژنی او وا کمنه جرگه ئې هم په دغه حیث و منی په میاشت کښی (یوزر او پنځه سوه) افغانی امتیازی معاش اخیستلای شی.

۵- څېړندوی:

څېړنوال که په درې کالو کښې دیوه داسی کتاب په لیکلو بریالی شی چه په مسلکی مجلس کښې چه سربېره په اصلی غړو پنځه تنه افتخاری غړی هم په کښی وی دعلم یا ادب په لحاظ یو بکر او مهم اثر و گڼل شی او وا کمنه جرگه هم دغه نظریه ومنی نو بیا د (څېړندوی) په حیث په میاشت کښې (دوه زره افغانی) امتیازی معاش ور کول کېږی.

۶- څېړنپال:

که څېړندوی اقلا څلور کاله په پښتو ټولنه کښې مسلکی وظائف اجراء کړی او په دغه موده کښی علاوه پرځینو نورو وظائفو چه په یوه مسلکی څانگه کښې ئی لری یو داسی کتاب ولیکی چه د ده تخصص اوفوق العاده استعداد وښئی او د پښتو ټولنی په مسلکی مجلس کښی چه سربېره په اصلی غړو لس تنه افتخاری غړی هم پکښی شامل وی دغه کتاب په دغه صفت او دغه سویه ومنل شی او بیا وا کمنه جرگه هم د مسلکی مجلس دغه تصویب صحیح و گڼی ده ته د (څېړنپال) حیث حاصلېږی او حق لری چه په میاشت کښی (درې زره) افغانی علاوه د رتبې په معاش په امتیازی ډول وا خلی.

لومړی تبصره

هغه کسان چه اوس په پښتو ټولنه کښی مسلکی وظایف اجرا کوی درجه تا کل ئی دوا کمنی جرگی کار دی چه د پښتو څو تنه مشهور پوهان او لیکوال چه د پښتو ټولنی افتخاری غړی وی پخپل دغه مجلس کښی شامل کړی او د هر یوه درجه دهغه د علمی استعداد شخصیت او ښه شهرت په اعتبار دخدمتو تالیفاتو او ترجمو له مخی و تاکی او امتیازی معاش ئی تعین او تثبیت کړی د دغو کسانو ارتقاء له یوې درجی نه بلی ته د دې لا یحی دمقرراتو تابع ده.

فعلا د دغو موجود واشخاصو درجه له (څېړنوال) نه پورته نه تثبیتیږی او د آینده فعالیتونو په اثر دغه چانس پیدا کولای شی

دوهمه تبصره:

په هره درجه کښی چه د کتاب لیکلو شرط او قید ایښو دل شویدی هلته غرض تالیف دی او دوه ترجمی دیوه تالیف حق لری په دی شرط چه ترجمه شوی اثر هماغه صفت ولری چه د تالیف له پاره وضع دی.

دریمه تبصره:

په هره درجه کښې چه د بریالیتوب له پاره کومه موده تعین شویده لږ کی موده ده چه د نه بریالیتوب په وجه دوه دغو مره کیدای شی که په دغو مره وخت کښی هم څوک بریالی نشی نور چانس نلری.

څلورمه تبصره :

دپښتو ټولنی نظری کادر په لاندی ډول دی :

۱ - څیړنپال دوه تنه
۲ - څیړندوی دوه تنه
۳ - څیړنوال درې تنه
٤ - څیړنمل درې تنه
٥ - څیړنیار څلور تنه
٦ - څیړونکی پنځه تنه

هغه غړی چه یوه علمی درجه لوړه ترقی وکړی تر څو چه په هغه لوړه درجه کښی چوکۍ ورته خالی کیږی پر هغه خپله علمی درجه به پاته وی .

پنځم تبصره :

دا امتیازات یوا ځی دپښتو ټولنی دعلمی غړو له پاره دی که په یوه مسلکی او علمی څانګه کښی له علمی غړو څخه څوك مقرر شی ددغو امتیازاتو دا خستنی مستحق کرزی .

دپښتو ټولنی علمی او مسلکی څانګې په لاندی ډول تثبیتیږی

۱ - دپښتو ټولنی ریاست
۲ - دپښتو ټولنی معاونیت
۳ - دتالیف او ترجمی مدیریت
٤ - دلغاتو مدیریت
٥ - دادبیاتو مدیریت
٦ - د مجلې مدیریت

شپږمه تبصره :

څوك چه دخصوصی او غیر رسمی تحصیل په اثر دپښتو ژبی دادیب او عالم حیث پیدا کړی او دتحقیق او تتبع صلاحیت ولری که دپښتو ټولنی مسلکی مجلس دهغه لیاقت په دغه درجه تصدیق کړی او دهغه همکاری ته ضرورت ولری هغه هم دمسلکی غړی په حیث ددې لائحی په قرار امتیازی معاش اخیستلی شی مګر داماده (تبصره) تر درې کالو اعتبار لری او وروسته تر هغه که څوك نوی په پښتو ټولنه کښی په مسلکی عضویت مقرر بیږی او دیو هنتون فارغ التحصیل نه وی له دغه امتیاز څخه استفاده نه شی کولای .

ښاغلی حبیب الله «تیزی»

ژبه او حرکات

کله کله ښاغلیو لوستونکو زما مقالی د کابل مجلی په مخکښې کښو کښې لوستې وی، دا حبزه به پوره ور ته څرګنده شوې وې چه د دارونیسم او بیولوجی دارتفا د نظر ئې سره سم انسان یو په یو په دا خپله ننی بڼه نه دی پیدا شوی بلکه وروسته د یو لړ مراحلو څخه د لومړنی ژوندی جسم نه دې برخی ته رارسیدلی دی نو له دی کبله زه د انسان د انسانیت د د مرحلی نه د مخه مرحله د حیوانیت مرحله بولم او حرکات یا د روح خارجی اثار چه تر ټولو نه ساده ئې بلا اراده حرکات دی، لومړی په حیواناتو کښی مطالعه کوم او بیا د انسان حرکاتو ته پسی راتیریږم.

ټول هغه حرکات چه د یوه ژوندی جسم څخه لیدل کیږی یو له دغو دوو خاصیتونو څخه لری یعنی یا حرکات تعبیری وې او یا تنازعی، تعبیری حرکات هغه حرکات دی چه د روح د داخلی حالاتو او احساساتو د تعبیر او بیان دپاره وی لکه خندا، ژړا او نور مګر تنازعی حرکات هغه حرکات دی چه د مساعدو حالاتو د ساتنی او له مضرو حالاتو څخه د ځان ژغورنی دپاره وی. اما څرنګه چه زما مطلب دلته د حرکاتو څیړنه د ژبی په یوه خوا کښې ده نو له دې کبله یوازی تعبیری حرکات.

تر څرنی لاندې نیسم او خبری پرې کوم ځکه د یوه له هغو مهمو قضایا وو څخه چه د تعبیری حرکاتو د جزء په توګه باید ګوته ورته ویول شی نطق او ژبه ده په انسان کښې.»

اما څرنګه چه مې د مخه هم وویل دادی د خپل کار د آسانتیا دپاره لومړې دغه حرکات په ځینو نورو غولا نځورو حیواناتو کښی ښیم او بیا د انسان په تعبیری حرکاتو باندی خبری کوم کله که مونږ یو سپی چه، د پلو (اعصابو) سلسله تر ښائسته ډیرو نورو غولا نځورونه متکامله او په هم دې لحاظ د تشخیص او ترکیب قوه هم پکښې زیاته ده په نظر کښې ولرو نو به دې حقیقت ته ډیر ژرور سیږو چه دغه حیوان هم د ډیر و تعبیری حرکاتو خاوند او هر یو له دغو تعبیری حرکاتو څخه ئې د داخلې احساساتو معرف دی مثلاً کوم مهال چه یو سپی په بل باندی د حملې خیال لری نو ئې خو له پیخه شې غا ښو نه ئې راووزی او په څیره ئې داسې یو تغییر پیدا ئې چه هغه د ده د حملی حالت په ډیر ښه صورت سره ظاهر ولاې شی اما دا هم باید فکر و نه کړو چه دغه حرکات په سپې کښې د قهر څخه پیدا کیږې بلکه د ځینی علما وو په عقیده په خپله دغه حرکات قهر یا د سپی د عمل حالت ګڼل کیږی. دغسی هم مونږ په ډیر واضح ډول سره لیدلای شو چه سپی خپل محبت او علاقه د څښتن سره په یو ډول حرکاتو باندی ظاهر وی او خپله د ښمنی د فقیر سره په بل ډول حرکاتو. یعنی کله که سپی سړی ته لکی ښو روی او پښو ته ئې

کوز او پاس کېږی دی دورا یه
پوهیږی چه دسپی مطلب دخپل
اخلاص او محبت اظهار دی اما
کله که یه ((عور یدلو)) سره
په بد هیبت منډه پرې کوی نو
وائی چه مطلب یی زما د اړل
او یا په اصطلاح خوړل دی .
نوله دې امله مونږ وایو چه سپی
دخپلو داخلی احساساتو اظهار
په ډیره زیاته اندازه دابتدائی
تعبیری حرکاتو په واسطه ظاهر وی
ځکه چه دی دتعبیری حرکاتو
تر ټولو نه قوی بڼه (ژبه) نه لری
یا په بله ژبه ویلای شو چه هر
څومره په یو ژوندی موجود
کښې دتشخیص او تعمیم قوه زیاته
وی نو ئی تعبیری حرکات هم په
هم هغې اندازه متعدد او یو دبل
څخه متمایز وی . تر څو چه خپلی
لوړې مرحلې یعنی ژبې ته
ورسیږی یعنی څنګه چه مو دمخه
وویل سپی یوازی ځینی مفاهیم
دخپلو تعبیری حرکاتو په واسطه
سړی ته پوهولای شی اما بیزو چه
تر سپی متکامله او دتشخیص او
دتعمیم قوه یی زیاته ده دخپلو
دغو حرکاتو په واسطه ډیر زیات

مفاهیم اظهار ولای او افاده
کولای شی دغه ډول په انسانانو
کښی هم په لومړی سر کښې ژبه د
تعبیری حرکاتو څخه مرکبه وه
چه دمقصود د پوهولو د پاره په
کار لویدل لکه څنګه چه دغه
شی نن هم په کوچنیانو
ګونګیانو او دنوې ژبې دزده
کونکو په برخه کښې په ډیره ښه
توګه سره څرګند ېدلای شی .
مثلاً کله که مونږ یو نفر دنوی
ژبی زده کونکی دخبرو اترو په وخت
کښې وو ینو، وبه ګورو چه یې
خبرې ډیری زیاتې دحرکاتو
سره یو ځای وی. یعنی څرنګه چه
دی ډیر مفهومونه په ژبه نه شی
ادا کولای او یا یې دډیرو شیانو
نومونه په خپله نوی زده کړې
ژبه کښې نه وی زده نو هڅه کوی
چه دغه مفاهیم او کلمات د
حرکاتو په واسطه افاده کړی
دغه ډول ګونګیان چه دژبې نه
بې برخې دی تل خپل مطالب د
تعبیری حرکاتو او یا دداخلی
احساساتو داظهار دلومړنی وسیلې
په واسطه سره افاده کوی. اما
داهم باید مونږ فکر ونه کړو

چه حرکات یوازی دانسان د
ژوندانه دتاریخ په لومړیو دورو
یا وحشیانو او ګونګیانو کښی
دډیرو ساده مقاصدو د افادې
دپاره استعمالیږی بلکه دقوی
ژبې دخاوندانو او پوره
متمدنو انسانانو د تکلم
سره هم توام دی ځکه « حرکات
په افهام او تفهیم او تاثیر په
محیط کښی ډیر اهمیت لری
او سړی دڅیری او تنی په حرکاتو
خپل مقصود په ښه توګه
سره بیا نولای او د نورو په
مطالبو ډیر ښه یو هېدلای شی .
حرکات روح بریښوی » نوله
دی جهته ویلا شو چه « نطق
یوازی هغه غږ ونه، نه دی چه
ئی په خپله ژبه کښی استعمالوو
بلکه تولی هغه لاری چه
انسان دهغو په واسطه مطالب
افاده کوی نطق وی. یوه پلا
کله ښورول ، ولی غورځول ،
وروځی خوځول، سترګی رپول او
سترګک وهل. تر یوازی
الفاظو ډیر زیات موثر
دی .» چه مونږ به ئی داغیزی
په برخه کښې لږ څه وروسته

خبری وکړو ځکه پخواله دی
څخه چه په دغې موضوع باندې
خبرې وکړو باید لومړی په
ځینې نورو موضوعاتو باندی
وغږیږو او دا څرګنده کړو چه
ایا دمدنې انسانانو دابتدائی
تعبیری حرکاتو په واسطه هم
څه افاده کیدلای شي او که یه!
زه خو وایم چه ډیره زیاته
ځکه څرنګه چه په خپل ورځنی
ژوندانه کښی وینو، خلك پخوا
له دې څخه چه دیوه سړی خبری
واوری او یا داپوښتنه وکړی
چه څه چل دی؟ دهغه حرکاتو
او وضیعت ته ګوری وینی
چه آیا تندې ئې تر یو دې او که
پراخ، رنګ ئې الوتی دی او
په ځای ستر ګې یې سرې دی
او که په خپل طبیعي حال.
شونډی یې ترغاښو لاندی کړی.
او که مسکا پکښی بریښی دغه
حالات په څیره کښی هر یو د
څانته مطلب افاده کوی چه
انسانان یی د خپلی او ږدې
تجربی له مخې ډیر ښه تعبیر
کولای شی همدا ډول پخوا دخبرونه
د سړی د اندامونو او تنې
حرکات مطالعه کیږی او حکم

پری کیږی مثلا کتل کیږی
چه ایا پلانی سړی چټک او
په بیړه رواندی او که ورو ورو
آیا نیولی نیولی ګرځي او که
په چستۍ سره آیا پلانی پیغله
کیږه وږه ځی او که د زرکی
په څیر. ایا مخا مخ ځی او که
یو خوا بل خوا ستر ګی غړه وی
آیا مغازو ته ګوری او که یی
دخلکو څیرو ته ستر ګی نیولی دی
آیا بی اعتنا ګرځی او که هر
څه ته په ځیر سره ګوری
دریږی، ورته آیا پلانی هلك جیخ
بیخ او پیچلی رواندی او که په
خلاصه تنه! داهم ټول هغه حالات
دی چه دانسان دپاره جلا جلا
مطالب او مفاهیم په ډیر ښه
صورت سره افاده کولای شی
دغه ډول کوم وخت که مونږ
یو شخص د تمثیل د صحنی په
دریڅ باندی مطالعه کړو،
هلته هم دغه شخص هڅه کوی
چه زیاتره مطالب په حرکاتو
سره افاده او ښکاره کړی
ځکه پخوا ددغه شخص دخبرو
نه ګورو چه آیا دغه
شخص په کومه بڼه د دریځ
دپاسه څرګندیږی؟ آیا ځان

توریالی ښیی او که ډارن؟ آیا
خوښ او که خپه؟ آیا یو ډول
که بل؟.
په دې برخه کښې ځینی
لیکوال تر دې هم لا پر مخ ځی
او وایی چه (دیوه شخص ظاهری
بڼه د هغه د حرکاتو په څیر په
روحی ارتباط کښی اغیزه کوی
څیره، جامی، همسا، په تکریم،
تعظیم، او تواضع پوری تړلی
حرکات د ارتباط په طرز کښی
مؤثر دی د تاریخ په ټولو دورو
کښې حاکمه طبقاتو دخپل ځان
دپاره یو ډول او د خپلی لاس
لاندې طبقی دپاره یې بل ډول
جامې ټاکلی او د دوی داستیلا
او تسلط دعلائمو څخه یوه علامه
هم همداوه.
دڅور لسم لویی ددربار جامې
دیور ته ادعا دپاره ډیر ښه او
قوی مسال دی.) اوس نو مونږ
دپور ته ویل شو دټولو تعبیری
حرکاتو څخه ځینی دلته ښیو
چه هر یو یې دځانته تعبیر نماینده
بلل کیږی. مثلاً د غړیو
خلاصوالی معمولاً د ښادی
او دتندی تریوالی دغم نښه ده
نیز نیز کتل او دخبری کونکی

خبرونه توجه د ادب تښه ده .
خماری ستر کې دارادې لږ والی
ښیی او خندا او ژړا هم د ځانته
حرکاتو سره یو ځای وی چه زه
یې په ښه تو که سره نه هم نرسیم
کولای . دغه ډول (دمخ تعبیری
حرکات ډیر زیات دقائق لری
او دهر هغه سړی دپاره چه په
روحیاتو کښې لاس او حیاتی تجربه
ولری دمخ د کرښو څخه هره
کرښه یو لړ باطنی روحی قضایا
ور ته توضیح کوی . دنقاش د
هنرمندی قدرت هم دممیزه کرښو
په صحیح او دقیق تشخیص کښې
دی . ځکه دیوې کرښی درست
انتخاب د کاملو قضایا و و
مفسر کیدای شی ، په تیره بیا دغه
امر د کاریکاتور — په هنر
کښی چه دنن ورځی یو مهم هنر
دی په ډیرښه ډول سره واضح
کیدلای شی او هنرمند یو
دوو کرښو دښودلو په واسطه یو لړ
عمیق معانی بیانولای شی . دغه
ډول په نقالی کښی د روحی
حالاتو ښوول لکه عشق ، غضب
او یا یوه مهمه تاریخی واقعه او یو
له معنی څخه ډك اتفاق دممیزه
کرښو دپیدا کولو او ښودلو په

واسطه کیږی . دغسی هم حالتی
ناچونه او دمخ د کرښو تعبیرد
دتیاتر او فلم په لوبو کښی دنوی
هنر مهمی څانګی تشکیلوی ، او
هنرمندان غواړی چه
په دغې برخه کښی دظاهری
مصنوعی حرکاتو په واسطه
څه په بدن کښی څه په مخ کښی
روحی قضیی مجسمی کړی . »
اوس بو دپورته عبارت له
مخې خپله پخوانۍ خبره بیا په
زغر دسره تکراروم او وایم چه
تعبیری حرکات نه یوازی
دبشریت په لومړنۍ مرحله کښی
دانسان داصواتو سره ملګری
او دانسان دداخلی احساساتو
د ظاهرولو نښې وی بلکه نن هم
ددغو حرکاتو لومړنۍ بڼه
ډیر زیات مفاهیم افاده کولای
شی حتی تر دې ځایه پوری چه کله
کله یو جزئی حرکت ډیر جامع
مفاهیم افاده کولای
او دومره مطالب یو بل ته سره
یو هولای شی چه په الفاظو په
کتابونو باندې ئې هم نه شو افاده
کولای . مثلاً کله که یوه شهۍ
خپل مین ته دمینی اظهار کوی
او ور ته وایی چه ته پرما

ګران یی زه ستا دپاره صادقه یم .
په لیدلو دې من من غوښی اخلم
زړه مې او به در باندې څښی
ستر ګې مې په تارنې دی ژوند
ستا دپاره کوم - - - - هیڅکله
به هم دا اظهارات و لو که
هر څومره زیات وی ، دسرو ناز کو
او شربتی شونډو څخه دیوې
مچې ، افاده ونه شی کړای
البته دا افاده نه یوازې د مین
او مینې ترمینځ دومره فصیحه
او بلیغه ده بلکه ده نورو خلکو
په نظرهم دد وو کسو دخولې
دمینی اظهار هیڅ کله هم ددوی
دمینتوب دومره ستر د لیل او
یا دځینو په اصطلاح تورته شی
کیدای لکه چه یوه مچه او
دمینا بو خوله په خوله لیدل کیږی
حتی تر دې ځایه پورې چه
بیا هلته د تردد څه شك او یا دعدم
علاقی دپاره څه بهانه هم نه پاتې
کیږی . په همدې ترتیب
دشاعرانو په قول هغه مطلب
چه ښکلی په یوه خوله خندا ،
نری مسا دستر ګو په یوه نری
ر په دورو ځو په یوه پلا کیږولو
دولو په غور ځولو ، په یو پلا شونډو

ز ښېښلو او یا څوڅا ځکو او ښکو تو
تو یو لو یا ندی افاده کوی یو عالم یی
د کتابو تو په ډ کو لو هم نه شی
افا د ه کو لا ی . هغه تأ ثر
چه دیوې نری ژرایه واسطه
چه ژرا د ځمیس او ولانکه
په قول پخپله حرکات دی افاده
کیږی گمان کوم چه هیڅ دول
الفاظ یې هم نه شی افاده کولای
مگر په هغه صورت چه پخپله
دژر احال ترسیم کړی دغه
دول کوم عبارات چه یې یو نفر
خطیب د خطابې په وخت کې
دحرکاتو په واسطه افاده کوی

بې حرکاتو ئی دافادی امکان
هم نه لیدل کیږی، ځکه کله
که عین خبره د وه نفره
خطیبان یعنی یو هغه خطیب
چه د خطابې په فن بوه او په
خطابه کښې ماهر وی او بلریې
محض هم هغه مطالب په عین الفاظو
بیان کړی مگر دیوه خطیب
حرکات یې نه وی زده او یا
داچه حرکات یې دیوه خطیب
نه وی و کړی نو گمان کوم چه
اغیزه به یې د ره ز یا نه سره
متفاوته وی . او د تفاوت علت یې
هم هغه حرکات دی کوم چه

دخبرو سره توام استعمالیږی
او دخطابې په فنو نو کښې راځی.
تردې بحث لاندی که نه وی تو به
یه مفصل دول سره پرې غږ یدلی
وم اما یه بای کښې خپله هغه
خبره هم تکرار وم چه مې مخکښې
وویل یعنی دیو شخص ظاهری
بڼه هم دهغه دحرکاتو په خیر
په روحی ارتباط باندې اغیزه
لری لکه څنګه چه جامې خیره
همسا!!! دارتباط په طرز کښې
موثر وی .

نوټ: په دی مقاله کی ما Effeitiues peeSh
یسیکولوژی « ارانی » او « فرودیدو
فروید یسم » څخه استفاده کړې ده.

بد او ښه

که دیا کو او بو خاوند پا کی او به نه کړی پیدا، پلیتی او به هم چیښی! کوم نجومی دبسیطی خلا او فلکی اجرامو په خصوص تر یوی اندازی معلومات وړ کوی حو هغه تمیز او ادراك چه دی ئی په دی لار کښې لری په تاسو نه شی شریکولای! یا نغمه کو نکی نغمه په تاسی اوری مگر دنغمې ماهیت په تاسی نه شی شریکولای تاسی ئې مه ملامتوی ء بلکه دلته ددنیا او ماورا په خصوص کښې خپل علم جلا سا تی ء .

جبران

دشید و مجنون

که دوینو مجنون؟

ښاغلی محمد عثمان

څرنګه چه تاریخ شاهد دی نه یواز په افغانستان بلکه په ټولو جوامعو کښې دعواملو او تربیې د اختلاف په اساس استعدادونه هم په جلاجلا بڼه څرګند شوی دی یعنی کله که مونږ بشری جوامع په غور سره مطالعه کړو نو به وګورو چه په هره جامعه کښې د استعدادونو اختلاف حتمی راته برېښی مګر په دې معنی نه چه د دوی دغه استعدادونه له آره سره متفاوت وی بلکه څنګه چه مودمخه هم وویل علت یې خارجی عوامل او تأثیرات ګڼل کیږی نوله همدې کبله مونږ وینو چه کله په عین جامعه کښې یو نفر زړور او بل بې زړه وی او کله عین نفر په جلاجلا جوامعو کښې د بیل روش یا اخلاق خاوند وګرځی اما کله کله هم دغه تو پیر دومره زیات ئی چه یو نفر د خپلې ټولنې مشری په لاس واخلی او نور یې پیرووی یو یې د قیادت پر تخت وخیژی او نور یې دمزدوری په کندو کښې ولویږی اما څرنګه چه زما خبری دلته د جامعې د مشرانو سره دی نوله دې کبله یوازی همدوی په نظر کې نیسم او د نورو څخه صرف نظر کوم.

زما په عقیده په جوامعو کښې دوه ډوله خلک د مشرانو په نامه میدان ته راوزی او دواس دغمخوری ناري وهی چه یو ډول یې د جامعې رښتنی خادمان وی او بل ډول یې هغه مکاران یا په صحیح عبارت محیلان وی چه یوازې د خپل شخصی غرض او ګټې د تر سره کولو د پاره د ملت او ولس چغې وهی. لومړی ډله یې خپل منافع د ټولنې په منافعو کښې لټوی مګر دو همه ډله یې د خپلو منافعو د پاره ولس قربانوی لومړی ډله یې په زړه کښې رښتیانی او پاکه مینه لری مګر دو همه ډله یې د مینې او محبت جامې په تن کړی وی، چه دا ډول خلک نه یوازی نن په جوامعو کښې صحنی ته راوزی بلکه په پخوا زمانو کښې هم د دغه ډول خلکو داستانونه اورېدل کیږی لکه دا چه وایی مجنون او لیلی د خپل وخت رښتینی عاشقان او د مینې پتنګان وو. نوله دې کبله مجنون د خپلې ګرانی شهی په مینه مست شو مستی یې جنون ته ورسېده او خپل کور او کلی یې پرېښود صحرا ته ووت او لیلی لیلی - ناري یې وهلی. مګر لیلی یې نه موندله. پر مخ ولاړ او دیوه کڼ څنګله په منځ کښې چه هابل سر یې نه وښکاره کښېناستو. د خوراک او څکاک نه پاتی شو. ځان او جهان دواړه یې د لیلی د مینې په مقابل کښې هېر کړو او همدا یې وې چه ا لیلی .. لیلی لیلی -

لیلی چه د مجنون رښتینی مینه او د عشق په خوږ و خوږ منه وه

نو هغه هم له دې غمه بې برخې
نه شوه پاتې . بلکه څو مره
چه د مجنون تنه زمو لېدله
دومره ددې بڼه هم ژېړېدله
تر کوم حده چه مجنون نا قراره ؤ
په هم هغې اندازې لیلی هم
نا ارامه وه . مګر نه پوهېده چه
څه وکړی، په پای کښې ئې دا فیصله
وکړه چه باید دروځی یو ګلاس
شیدې دهغه دقوت لایموت د پاره
ورواستوی . خپله مینځه یې
راوغوښته اوورته ئې وویل
چه وروسته له دې هر سهار یو
ګلاس شیدی مجنون ته په
پلانی ځنګله کښې ورورسوی .
مینځې ومنله او هر سهار به یې
دلیلی په غوښتنه، یو ګلاس
دشېدو څخه ډک کړ . روانه
به شوه او مجنون ته به یې واستاوه
څو موده نه وه تېره چه کوم
دروغجن او محیل انسان
دلیلی په راز پوه شو . دمنافقت
جامې یې دیوه ملنګ په نامه
ورواغوښتلې . ولاړ او دځنګله
په دا بل سر کښې د لیلی

د مینځې دلارې په سر
کښېناست او د یو ګلاس
شیدو دپاره یې په لیلی لیلی
ویلو خپل ستونی وشکاؤ . مینځه
ورغله او دشیدو ګلاس یې
ورکړو - ورته ، مګر په دې
هیڅ هم ونه پوهېده چه دارښتیانې
مجنون دی او که دروغجن .
ځکه ده دیو ګلاس شیدو خوړلو
او خپلې ګېډی دمړولو د پاره
داسې دتلبیس جامې په تن کړی
وې چه یې پېژند او د لیلی
ستر ګې غوښتې نه د مینځې .
ده دځنګله په صحنه کښې داسې
دا کټ، کاؤ چه پرته درښتینې
مینانو درښتیا امتحان څخه بل
هیڅا هم دصحنې څخه نه شو
بهر کولای ، نو له دې جهته
ساده مینځې ښایسته زیاته
موده دمجنون شیدې په دروغجن
وخوړلې . مګر وروسته له څه
مودې لیلی په مینځې بدګمانه
شوه ، ځکه د ګیلاس دشیدو
په خالی کېدو د لیلی د زړه
سوده نه کېده . بلکه ورځ په ورځ یې

حال مخ په خرابېدو اورنځ یې
مخ په زیاتېدو شو . په پای کښې
مجبوره شوه چه مینځې ته دمینې
یو امتحان ورو ړاندی کړی .
امتحان داؤ چه لیلی ورته
وویل مجنون دې نن وروسته
د شیدو د څکلو څخه ګیلاس
دخپلو وینو نه درته ډک کړی
او ماته دې راولیږی . مینځه
ولاړه او ګلاس یې دروغجن ته
ورکړ .
اما کله چه یې شیدې وڅښلی
نو مینځې ورته وویل : « لیلی وی
چه ګیلاس دخپلو وینو نه ډک کړه
او ماته یې راولیږه .
دروغجن ددې غوښتنې داوریدو
سره سم ورته وویل : زه دشیدو
مجنون یم . د وینو مجنون
دځنګله به هابل سر کښې دې . »
مینځه پخپله اشتباه پوه شوه
او خالی ګلاس لیلی ته ورغله
لیلی یې په حال خبره کړه
او وروسته له دې ورځې به یې
بیا هره ورځ دشیدو ګلاس دوینو
مجنون ته ورساوه او خوږو
مینانو به خپل قوت پرې کاؤ .

د لېوه مرگ

دا لفور دووینی له پارچو څخه
ښاغلی محمد اکمل احمدزی دحقوقو
دفا کولتی محصل

وریځې لکه هغه دوداولو گی چه داورد لگېدلی ځای څخه چه جگ شی په همدې شان دسپوږمۍ مخې ته دوری دوری کېدلې ځنگلونه دافق ترلمنو پوری ټول په توره تیاره کښی پټوو مونږ ټول پټه خوله دزیمناك چمن او گڼو شنېلیو پرنرۍ لارروان وو په همدغه وخت کښې د ځینو ونو لاندی د هغو مهاجرو لېوانو دپلونو نښی ولیدلې شولې چه مونږ پسی گرزېدلو مونږ ودرېدلو - سامو ونیو له اوغوږونه موڅك کړل هیڅ اواز ددښت او ځنگلو څخه نه جگېده صرف دیوې بېوزلی مرغۍ یوزهېر زغ په فضا کښې خورؤ - دا آواز اوریده کېده بل هیڅ یو آواز چانه شوای اورېدلای ځکه هغه تندباد چه چلېده اودونو څانگی ئې یودبل په غېږ وروستلی هغو چاته دامجال نه ورکاوه چه انسان دی څه واوری په همدغه حال کښې هم چه مونږ کښې ترټولو زوړ ښکاری دځمکی خواته کوږ شواو وروسته پرشینلیو باندې اوږد اوږدو غځیده لږه شیبه وروسته ئې مونږ ته وویل: «دلته ددووغټو او دووړو لېوانو پلونه لیدل کېږی چه همدغه اوس تېرشوی دی ددې خبری په اوریدلو مونږ ټولو خپلې چړې له تېکی څخه راو کښلې اوخپل ښکاری ټوپکونه موچه دهغو میلونو مخصوصه رڼا کوله پټ کړل - مونږ ورو ورو دونو ښا خو نه لیری کړل او قدمونه مو وړاندی کښېښول ، ناڅاپه زمونږ څخه درې کسه ځای په ځای ودریدل اوزه وروړاندی شوم چه دملگرو لیدلی شیان په خپلو سترگو ووینم خوڅرنگه چه ښه ځیر شو په لیری فاصله کښې دوې سترگی دځلا په حال کښې لیدلې کېدلې دهمدې ځلاندو سترگو لږ فاصله هغې خواته څلور نورژوی هم د نڅا په حال کښې لیدل کېدل چه دسپوږمۍ رڼا ته په هغه شان حرکات اوسکنات کوی کوم چه یوسپی دخپل بادار مخی ته د خوشامندۍ په حال کښې لیدل کېږی دادواړه یورنگ وو او په یوه شان نڅا ئی کوله . لېوه دبازۍ اونڅا په وخت کښې پټه خوله وو ، ځکه دوی پوهېدل چه ددوی په نژدې فاصله کښې ددوی دښمن (انسان) شته اوددوی د کور سره څار کوی ونی ته نژدې یوه لېوه دهغه مرمرو دلېوه په شان چه پخوا نیو رومیانو به دهغه پرستش کاوه اوامولوس (نیم خدایانو) به دهغې له تی نه شېدې رودلې لیده کېده چه په خوب کښې تللی ؤ .

لېوه وړاندې راغی او خپل تېره نو کان ئې په مځکه ننوېستل او کښېناست ځکه پوهېدلی و چه د تښتېدلو لار پرې تړل شوې ده او له هرې خوا محاصره شوی دی او نور له مرګ نه د خلاصېدلو لار نه لری ، کوم وخت چه ئی ځان مرګ ته تسلیم کړ، نو له خپل ځای څخه راجګ شو او په ډېر غضب سره ئې زمونږ د زوړ تازی ستونی په خوله کښې ونیو سره له دې چه زمونږ د ټوپکو ګولیو ئې وار په وار غوښه او پوستکی سوری سوری کول او زمونږ چړی هم دده په دواړو خواوو کښې ورننوتلی او غوښې ئې ترې پاشلی بیا ئې هم په خپلو کلکو زامو د تازی غاړه په آرامۍ سره ورڅېری کړه ، سپې چه پخوا لامړ شوی ؤ آخر دهغه په پښو کښې و لوېد .

نو هغه وخت لېوه لاس واخیست او مونږ ته ئې په ډېر ځیر و ګتل زمونږ چړې تر لاستو بوری دهغه په دواړو خواوو کښې ننوتې وی او هغه ئې په هم هغه چمن کښې چه دهغه په وینو رنګ شوی ؤ ځای په ځای درولې ؤ . زمونږ ښکاری ټوپکو دهغه هرې خوا ته لکه ددوه ور ځو سپوږمۍ دا ډول شکل تشکیل کړی ؤ .

لېوه یو وار بیا مونږ ته وکتل ، وروسته پر ځمکه پرېووت او په هغه وینو ئې چه د خولې سره ئی وې په څټلو ځان مشغول کړ بې له دې چه ځان ته ددې زحمت ور کړی او پوه شی چه څرنګه د مرګ په منګولو کښې لوېدلی دی خپلې برندې ستر ګې ئې پټې کړی او بې له کوم ووړ فریاد نه ئې سا وختله .

— ۲ —

ټنډه مې په خپل ټوپک کښېښوده او په فکر کښې ولاړم ځکه ما نه شوای کولای چه د لېوه او د هغه په زامنو پسې شم چه د رې واړه په انتظار کښې پاته او دې ته حاضر نه ؤ چه و تښتې حتی یقین لرم چه که د ښکلی او غمجن لېوګۍ په غاړه کښې د کوچنیانو ساتل نه وای خپل مېړه به ئې د مرګ په کشمکش کښې یوازې نه پرېښود خو دهغې وظیفه د دغو وړ کیو خلاصول ؤ تر هغه چه دوی ته ورزده کړی چه څرنګه ښایی د لوږی رنځ تېر کړی او هېڅکله په ښارونو کښې چه هلته د انسان نوع له کور نیو حیوانانو سره د همکاری وعده کړی ده ، و نه ګرزی .

له ځانه سره مې وویل : افسوس ! سره له همدې د طمطراق ډک عنوان نه « انسان » زه څومره له خپل ځان او خپلو همنوعانو څخه چه ټول لکه زه ضعیف او ناڅېزه دی ، شرمېږم .

ما وویل : ای زړورو حیوانانو فقط تاسو پوهېږی چه څرنګه ښایی د ژوند او دهغه رنځونو ته په مېړانه سره خدای پامانی و وایاست .

ښاغلی رشاد قندهاری

چاړه اوستن

چا تحفه راوړه چاړه وشیخ فرید ته
شیخ چاړه بیرته ور، رد کړله مرید ته

ول(۱) چاړه مه راوړه ځکه چه پر ېکړون کا
کې(۲) راوړې ستنی راوړه چه پیوستون کا

مونږ راغلی یو چه بیا تازه دوستۍ کړو
دامو کارنه دی چه جوړی جدایۍ کړو

مونږ راغلی یو چه بیا مینی تو دې کړو
زړونه پرې مینځو له خیرو، وینی سرې کړو

په عالم کښی د (ملك) وکړو الفت بیا
او په زړونو کښی پیدا کړو محبت بیا

مونږ راغلی یو چه عشق بیرته ژوندی کړو
د (ناسوت) چمن په مینه ګلالی کړو

زمونږ قواوی بویه(۳) صرف شی و دانۍ ته
نه چه ملاوی مو تړلی وی ورانۍ ته

بویه (ستنی) شو چه پرې زړونه پیوند کړو
(چړې) نه شو چه خپل کار قطع و ګزند کړو

که فکر وکړو چه د ځمکی پر سر څه شی ؤ او څه له ځانه پر بېږدو، ښه پوهېږو چه یوازی پټه خوله باعظمته اولوی څیزدی ادنور هر څه له هغه نه برته د ضعف خبر را کوی - آه! ای لارویه! ماستا د فکر طرز ښه ومیند، ځکه ستا آخر وار کتل زما د زړه منځ ته ور سېده، ستا کتلو، د اسې ویل چه: که کولای شی، داسې وکړه چه د کوشش او تفکر په اثر، په هغه درجه لوړ غرور او مېړانه چه ستا روح پرې خوی اخېستی دی. په هغه کښې لاس پیدا کړه.

کرېږی بغاری، ژړا، عذر دا تول د سست عنصرانو او بې چارګانو کار دی که مېړه ئې! خپله درنده وظیفه چه تا ته درسپارل شوې ده په لاس کښې واخله او په هغه لار کښې ئې چه سرنوشت تا ته تعین کړې ده، مقصد ته ورسوه او پس له هغه ماغوندې رنځ یوسه او مړشه، بې له دی چه شکایت وکړې.

---

(۱) ول دویل مخفف
(۲) کې د که ئی مخفف
(۳) بویه «باید

(۱) استاذ همزه

داستاذ همزه په استقبال

ستا په تصور کښې مېړنۍ شوې زما سترګې
ځان ساته غزا له، چه زمرۍ شوې زما سترګې
ځار شم له دې میو چه ئې جوړ ستا تصور کړ
سترګې می شوې مستۍ، که مستۍ شوې زما سترګې
خدایزده چه کرم خیال می سر دزړه له کړ کې ویوست؟
خلق ورته ګوري لېونۍ شوې زما سترګې
خیر دالتفات به ورته کله ور ګذار کړې؟
تېرې له کچکو له شوې ځولۍ شوې زما سترګې
دومره داشنا په تصور شوې مضطربې
ګوره، حمزه ګوره ښا پېرۍ شوې زما سترګې

(۴) ښاغلی بسرلی

دمینې په یارۍ کښې مېړنۍ شوې زما سترګې
درداو ښکولونې لاس سورۍ شوې زما سترګې
شپه ورځ وې دتور پېکې روپۍ پکښې زنګېږي
نده باندې وچه که روپۍ شوې زما سترګې
تل ئې چه ملګرې تصور دی ستا د سترګو
تښتې له هر چا څخه هوسۍ شوې زما سترګې
سپینه خوله می ستا ډېره ترسترګو سترګو کېږي
څو به دی لار ګورمه؟ سپوږمۍ شوې زما سترګې
تا او تصور دی سره نشم پېژندلی
څه رنګه بې واکه لېونۍ شوې زما سترګې
لوی رانه واړه ښکاري که هر څو ورته ځیر شم
سیل کښې دوړې خولګۍ کوچنۍ شوې زما سترګې
خوږ دګل په یانه دخاتول په او رو یلېږي
دغومره په مینه کښې تنګۍ شوې زما سترګې
رنګ چه دی دشونډو ورپیاد شي؛ کوی رېنګه
ژاړي په خوږ وپسې ګمګۍ شوې زما سترګې

ښاغلی عبدالله «غمخور»

څو

څو به زخمي تو تي نو تي په زړه افګار ګرځم
څو به د لبر ه ستا په عشق کښی نا قرار ګرځم

څو به له غمه سره یاقوت اوری له ستر ګو زما
څو به له هجره سر ګر دا نه او بیمار ګرځم

څو به دزړه په بر دو ګو تي زدم داستا له غمه
څو به دامات رباب د همه تار په تار ګرځم

څو به ډیوی زما د ستر ګو تر سبا بلیږی
څو به دزړه شمعه په لاس کښی انتظار ګرځم

څو به غوټی په څیر دزړه په وینو رنګ یمه زه
څو به لاله غوندي دزړه په سر داغدار ګرځم

څو به مجنون په شان لیلی وردي زبان وی زما
څو به ادم غوندي درخو ستا انتظار ګرځم

څو به د خیال په هند اره ستا ننداره کړمه
څو به آزار دستر ګو اخلي بي ابصار ګرځم

څو به پلو له مخه نه اخلي زما د لبره
څو به محروم دي له دیدنه او دیدار ګرځم

څو به بسمل خاطر کړ یږم ستا په مینه کښی زه
څو به بي میو ای ساقی هسي نا چار ګرځم

څو به زما د سوز نغمي هوا کښي رقص کوی
څو به او تره ستا له غمه خوار وزار ګرځم

څو به د حسن ګرمی ستا وی زه د مینې تږی
څو به وي ته هسي بي نیا زه زه نا چار ګرځم

افق ته ګورم پرې دغم ور یځي خورې راځی
اند ېښنه مکړه د هجران نو رې تیاری راځي

مترجم : الفت

سوسیالستی

دفقیر او غنی ، دضعیف او قوی
دمزدور او بادار دښمنی له ډېرې
پخوانۍ زمانې نه په دنیا کښې
وجود لری او هر چیرته هر کله
ډیرو پوهانو دغریبانو په طرف
دارۍ دخپل عصر قارون او هامان ته
بد ویلی دی .

ددنیا مال ته په بدنظر کتل
او شتمنی د شر او فساد
تومنه او پانګه ګڼل چه
به مسیحی دین یا په اسلام کښې
وینو ، له سوسیالستۍ سره
نژدی ارتباط لری او افلاطونی
نظریات چه نیلی او ریښې ئی
ډیری پخوا زمانی پوری تړلی دی
له همدغی مفکوری سره تعلق لری

دهر ځای او هر وخت په شعر
او فلسفه کښې چه په یوه طرز
او بل طرز دعدالت او مساوات
په باب څه وینو همدغه مقصد
او مطلب په کښې روزل شوی دی
ددی فکر نطفه دسو فسطایانو
په عقایدو کښې په قبل المیلاد
پنځه پیړیو کښې هم وینو او په دریمه
څلورمه ق ، م پیړۍ کښې
اپیکور او دهغه پیروان

هم د فقیرانو په ګټه خبرې
کوی او دغه فکر ته په
ښه نظر ګوری ، لنډه دا چه
دانګلیسی مورخ (ولز) په عقیده
هغه لومړنی سړی چه ډیر مالونه
ئی راغونډ کړی او هر څه ئې
دځان ګڼلی دی په حقیقت کښې
دسوسیالستۍ دفکر پیدا کوونکی
او موسس دی یعنی همدغه
سړی له مالکیت او دمال له
انحصاره سره مبارزه کړی ده
او په خلکو کښې ئی دخپل عمل
ردعمل پیدا کړی دی .

لکه چه هګل وائی دهر فکر
دضد نطفه په همهغه فکر کښې
پرته ده دمالکیت د ضد فکر هم
دمالکیت دفکر سره ملګری دی
او دواړه فکرونه همزولی دی .

هغه طبقه بندی چه دتاریخ
په مختلفو دورو کښې په خلکو
کښې وینو او هغه ظلم چه ځینی
ممتاز طبقات ئې په نورو طبقاتو
کوی دمساوات د فکر
پیدا کوونکی دی او همدغه فکر
دسوسیالستۍ اصلی منشاء ده
دا فکر له ډیرو خته په دماغونو

کښې ؤ چه باید قوانین او
قدرتونه چه په داسی ډول ترتیب
او تنظیم شی چه دحاکمی طبقی
دپرستۍ غریزه په ښه شان اداره
کړی او دظلم مخه ونیسی .
مګر د ۱۹ قرن په لومړی سر
کښې چه صناعت ترقی . وکړه
او کارخانی را پیدا شوی
دغه فکر ډیر قوت وموند او دا
اراده پیدا شوه چه دغه لوی
اجتماعی مشکل دیو ساده فارمول
دوضع کولو په وسیله حل شی .

همدغه وخت د انګلستان
په کارخانو او فابریکو کښې
دکاریګر و جمعیتونه دېته
جوړ شوه چه دغه فکر په
کارخانو کښې وروزی ځکه چه
دکاریګرو غونډ ېدل او یو
کیدل اسانه شول او پخوا تر دی
چه کارخانې نه وی دغه رېمنه
مساعده نه وه چه کار کوونکی
ډلی په یوه ځای راغونډې شي
او دخپل بهبود په فکر کښې
شی یعنی همدغه کارخانی
که له یوی خوا د یوی شتمنې

ډلی د ګټی دپاره جوړې شوی له بلی خوا دمزدورانو او کار کوونکو د پاره یوه ښه وسیله شوه چه دوی دځان د ګټی دپاره غونډشی، کله دخپلی مزدوری دزیاتولو مطالبه وکړی او کله دخپل وخت د کمولو مجادله وکاندی.

دنوې سوسیالستی دشروع کیدو نیټه همدغه ده چه پخوا تردی ئی سابقه نه درلوده.

اتفاقاً ددغه میدان پهلوان او دنوی سوسیالستی محرك یوداسی سړی (رابرت اوون) ؤ چه پخپله د کار فرمایانو له ډلی څخه و او د کار خانی خاوند بلل کیده،

رابرت اوون،

داسړی یو انګلیسی وچه په انګلستان کښی اوسیده (۱۷۷۱ - ۱۸۵۸) ده په ابتداء کښی ډیره لږه پانګه درلوده او سپنسی به ئی او بدل مګر ددی لامله چه پخپل فن کښی دابتکار خاوند وبه لږ وخت کښی ئی وړوکی د کان په یوه کار خانه بدل شو چه دوو زرو تنو پکښی کار کاوه دا سړی یوزړه سواندی او مهربانه شخص ؤ چه په کار یګرو ئی لوړینه ډیره وه او په همدغه وجه ئی د کار کوونکو د کار ساعتونه لږ کړه په کار خانه کښی ئی د کوچنیانو د استخدام مخه ونیوله، څو مدرسی ئی د کار یګرو د کوچنیانو دپاره جوړی کړی او علاوه په دغه راز عملی اقداماتو ئی پخپلو لیکنو کښی هم دجامعی دا کثریت په طرفداری او د بیعدالتی په ضد مجادله وکړه.

دده دفریاد او کوښښ په اثر په ۱۸۱۹ کښی د کار خانو او کار یګرو په باب لومړنی قانون دانګلستان په پارلمان کښی تصویب شو.

رابرت اوون که څه هم ځانته ملګری او طرفداران پیدا کړه مګر مخالفین ئی هم ډیروو مخصوصاً هغه کار فرمایان چه دده دنظریاتو په وجه هغوی ته زیان او تاوان رسیده او فرصت ئی لټاوه چه په ده باندی بلوسی دا فرصت هغوی ته هغه وخت په لاس ورغی چه رابرت اوون خپل مذهبی عقاید دمسیحیت له رسمی مراسمونه مخالف وښودل او عمومی افکار دده په ضد وپاریدل مګر دی مایوس نشو او خپل کار ته ئی دوام ورکړ،

دغه وخت دی له انګلستان نه امریکا ته لاړ داینډیانا ولایت کښی ئی په نیو هارمونی کښی خپل فعالیت شروع کړ او خپله سرمایه ئی هلته په کار واچوله.

درابرت اوون لومړنی سوسیالستی پوره دموکراتیك طبیعت نه درلود بلکه وروسته پکښی دموکراتیکی عقیده پیدا شوه.

د ده لومړنی منظور خیر غوښتنه نیکی او له خلقو سره کومك ؤ یعنی مذهبی شکل ئی درلود چه له کار فرمایانو نه ئی داغوښتل چه د کار یګرو دتعلیم وسایل برابر کړی.

په واضح ډول بایدوویل شی چه داوون لومړنی سوسیالستی د کار یګرو له خوا کوم حرکت نه وبلکه د کار فرما حرکت بلل کیده یعنی سوسیالستی اید با لوژی په اصل کښی د کار یګرو دفکر محصول نه دی بلکه

د کارفرمایانو دفکر مخلوق دی لکه چه مارکس هم پخپله د اریستوکراتانو له ډلی څخه واو دهغه ملګری انګلیس هم یو سوداګر ؤ چه د کارخانې خاوند بلل کېده .

لینن هم دیوې شتمنی کورنۍ غړې و چه د کورنی له خوا وشړل شو او له خپل وطن څخه ئی مهاجرت وکړ .

د رابرت اوون له فعالیت سره نور فعالیتونه هم په امریکا او انګلستان کښې موجود ؤ چه داوون د سوسیالستی عقایدو سره ئی رابطه ساتله مګر سره له دې د ۱۸ قرن فلاحتی تحولات او صنعتی انقلابات د دې باعث شوه چه ډېر خلك وزګار پاته شی او د مزدورۍ په پیدا کولو کښې یو له بله رقابت وکړې په همدغه سبب د مزدور مزدوری ډېره لږه شوه او کاریګر له لوږې له ډېرې بدې ورځی سره مخامخ شوه ،

هر کله چه دغه حال یوې داسې مرحلې ته ورسېده چه کار کوونکو دځان دپاره ډېر لوی خطر ولېد، دوی دېته ملتفت شوه چه باید چه یو له بله متحد او متفق شی او ځانونه له خرڅولونه وژغوری ، د دغسې یو اتحادیې جوړول په هغه وخت کښې له قانون څخه مخالف ؤ ځکه په پټو انجمنونو کښې له پردې لاندې دغه راز تړونونه وشوه چه ظاهری هدف او عنوان ئې بل شی ؤ مګر په اخره کښې چه د انګلستان د عوامو مجلس د دغې وضع بدلون ته ضرورت ولید نو په ۱۸۲٤ کښې ئې یو قانون وضع کړ چه کاریګرو ته ئې د اتحادیو جوړولو اجازه ورکړه او دوی د قانون له مخې دا حق پیدا کړ چه په ګډه د کارفرمایانو څخه دخپل حق غوښتنه وکړي .

دغه قانون کاریګرو ته یو څه ازادی ورکړه او دغو اتحادیو په ابتداء کښې لږه آزادی درلوده مګر وروروئی تشکیلات زیات شوه او دیوه نوی قدرت په شکل ئې ځان وښوده .

دغه اتحادیې لومړی په انګلستان او امریکا کښې جوړې شوې او بیا په فرانسی او المان او نورو غربی هیوادونو کښې تاسیس شوی .

دلته باید داوویل شی چه دغه اتحادیه (تریدیونیون) په اصل کښې د مزدورۍ د تثبیت او د کار دوختونو د تجدید دپاره جوړې شوی چه په ابتداء کښې ئې له سوسیالستۍ څخه فرق درلود د دغو اتحادیو هدف دا و چه د کاپیتالیسم د سیستم له قبلولو سره د استخدام د موجوده شرائطو لاندی کاریګر زیاته استفاده وکړی شی ، حال دا چه د سوسیالستۍ تقاضاء داوه چه دغه اقتصادی سیستم بېخی واوړی او بدل شی .

په همدغه وخت کښې کارل مارکس دغه میدان ته راغی او کوښښ ئی وکړ چه د خپل فکری قدرت او موقع پېژندلو په اثر دادوه نهضتونه یو له بله مربوط کړی او دواړه په یوه سیستم کښې راولی .

(دپازادګادله تاریخ فلسفهٔ سیاسی څخه اخیستنه)

دښاغلی محسنې

ښونځی په المان کښی

په المان کښې کولتوری او عرفانې اوضاع د هغه مملکت داساسی قانون سره سم دایالتونو دحکومت پوری اړه لرې، هر ایالت ځانله دپوهنی وزیر لرې.

دتعلیمی پروګرامونو تثبیت د نویو تدریسی او تربیوی مسودو وضع او ایښودل، دنوو ښونځیو جوړول، دهر ایالت د کولتوری مالی او اقتصادی مشکلاتو لیرې کول هغه وظایف اودندې دې چه دټولو ایالتونو دوزیرانو له خوا چه دمستقیمو مذاکراتو اوددوی دګډو کنفرانسونو له لارې حل او فصل کېږي له المان نه دخارجو ممالکو سره د کولتوری روابطو جوړول او انکشاف، دغربی المان دخارجه وزارت وظیفه وه چه له المان نه دباندې د عرفانی موسسو سره په تماس کښی شی او د المان دایالتو د پوهنې دوزیرانو سره مرسته کوی.

په لومړنیو (ابتدائی) ښونځیو کښې دزده کړی لار

د ۱۹۲۰ کال نه را په دې خوا دغربی المان په اتحادیه کښې په عمومی ډول له د ۶۰ کلنی ته تر د ۱۸ کلنۍ پوری چه ۱۲ کاله کېږی هر کوچنې ته تعلیم ورکول په اجباری ډول دی دا (۸) کلونه چه له (۶) نه تر ۱۴ پوری شی، لومړنۍ دوره ده چه په یو ابتدائي ښونځی کښې پای ته رسول کېږي په ۱۰۰ کښې ۸۰ تنه المانی کوچنیان نن روځ په عمومی ډول په دغه ډول ابتدائی ښونځو کښی شامل او په زده کړه بوخت دی.

له ۱۴ کلنۍ نه وروسته

وروسته له اته کلنۍ دورې نه چه په یو ابتدائي ښونځی کښې پای ته ورسیږی زده کوونکی دخپل ذوق او مینی سره سم یو ډول کسب او کار لکه نجاری رنګمالی، عکاسی، دلاکی، پښګری پخلی، کورنی امور او داسی نور د کسب دزده کړې د پاره په یوه لومړی ښونځی کښی شاملېږي او دیو کارګر په حیث خپله زده کړه پای ته رسوی په دې ډول ښونځیو کښې د زده کړې دوره درې کاله ده، په دغو ښونځیو کښې دزده کړی صورت په اونۍ (هفته) کښې یوه ورځ دې داونۍ نورې ورځی په یوه موسسه فابریکه یا د کسب کارانو په دکانو کښی دنوی زده کوونکی په حیث په عملی کار باندې بوخت وی دالمانی هر فرد دپاره چه دوطن دابتدائي ښونځیو اته (۸) کلنۍ جوازنامه لری په دغو ښونځیو کښی بې له استثناء شاملېدل وېړیادې

متوسط ښونځي

شاګردان کولای شی چه وروسته دابتدائی ښونځیو داولې دورې نه چه څلور کاله کېږی بې له استثنا دزده کړې دپاره په متوسطو ښونځیو او یا لیسو کښې شامل شی.

په متوسطو ښونځیو کی دزده کړی دوره وروسته له ابتدائي شپږ کلنۍ دوری څخه ده، زده کونکی کولای شي چه دمتوسطو ښونځیو له فراغت نه



نجونی د نڅاد زده کړی په حال کښې

دیو لومړنی ښوونځی د صنف د نننۍ برخه

زده کونکی د سپورت په حال کښې



دیوه لومړنی ښوونځی تعمیر

ور و سته دخپل ذوق او مینی
سره سم په مسلکی فنی اداری
ښونځیو کښی لکه محاسبه ،
تجارت زراعت نقاشی رسامی
موزیك دماشین بسته کاری او
نورو کښی داخل شی او په دغه
لړ ښونځیو کښی خپلی زده کړی
تر ۱۸ کلنی پوری پای ته ورسوی

د بکلوریا دوره

هغه زده کوونکی چه داولی
دوری له پای ته رسولو نه وروسته
په لیسو کښی داخلیږی پر ته له
ابتدائی دوری نه باید ۹ کاله
په لیسو کښی زده کړه و کړی
زده کړه په المان کښی په دری
ډوله کیږی : دلرغونیو ژبو
لیسی ، دنویو ژبو لیسی او دسائنس
(ریاضی ، فزیك ، کمیا ، بیولوجی)
دعلومو لیسی .

دلرغونی ژبی لیسی هماغه لیسی
دی چه دلاتینی ژبی په کښی
دیوی خارجی ژبی په توګه
تدریس کیږی او زده کول ئی
یو حتمی کاردی دنویو ژبو په
لیسو کښی انګریزی دیوی
خارجی ژبی په توګه ویل کیږی
هغه لیسی چه دسائنس بلل
کیږی په انګریزی ژبه ورد پاسه
زده کونکی د لوړو تحصیلاتو
دپاره دسائنس او تخنیك په
فاکولتو کښی روزل کیږی
هر څوك کولای شی چه ددغو
دری ډولو لیسو له فراغت نه
وروسته چه شهادتنامه ورسره هم وی
بی له استثنا او یا مشکلاتو نه د
عالی تحصیلاتو دتکمیل دپاره په
ډول ډول یونیورسټیو یا په عالی
تخنیك او مسلکی ښونځیو کښی
کوم چه دیونیورسټیو حیثیت لری
شامل شی .

دښاغلی ثابت تتبع اولیکنه

پښتانه دنورو په نظر کښی

سامانی کورنۍ : دریمه برخه

ښاغلی «العقاد» چه پخپل
مضمون کښی دپښتنو دسامانی
کورنۍ یادونه په اجمالی
توګه کړی ده ، مونږ وغوښتل
چه ددغی پښتنی کورنۍ لږ څه
په تفصیل بیان او یادونه وکړو ،
چه ګوندی لږ وډیر ددغی کورنۍ
پیژند ګلوی وشی ، او ښاغلو
لوستونکو ته ښکاره شی چه دپښتنو
تاریخ ډول ډول مفاخر لری
او پر ښو لوړو ویاړنو باندی
مشتمل دی .

اول د سامان او د سامانی کورنۍ پیژندفه : د پښتونخوا
په پخوانی مرکز بلخ (باختر)
کښی چه یوستر او نامتو پښتون
ؤ ، دا پښتون «سامان» نومید ،
دغه پښتون په پښتنو کښی دښه
وجاهت او غوره نفوذ خاوندؤ ،
او په هغو سیمو کښی د پښتنو
سرغنه او مشر ګڼل کیده دپښتنو
له دود او دستور سره سم کله
چه پښتانه دخپلو مشرانو په
ځای او خواوشا کښی راغونډیږی
ددغه پښتانه پر ځای به هم هر کله
دپښتنو ټولنی کیدی او دده په
مشرۍ او دده له خوښی او
فکری سره سم به یی هلته جرګی
کولی خپلی ماتی ګوډی به یی
خلاصولی او خپل تصمیمونه
به ئی نیول . دا مشر پښتون دښو
اخلاقو او ښه خوی خاوند او
دعلم او ښه فضیلت خاوند هم ؤ ،
چه له دی لاری هم په پښتنو
کښی خورا ښه منلی او دښه نامه
خاوند ؤ په عین حال کښی نوموړی
سامان د ښی شتی او هستۍ

خاوندهم ؤ، چه دخپلی مالداری
په اثر به یی له بیوزلو او نادارانو
سره هم مرسته او کومکونه
کول. سر بیره پردی چه دده پرځای
به دپښتنو جرگی او مرکی
کیدلی او ددغو ټولنو لګښتونه
او مصارف به هم دده له خوا کیدل
نورهم لکه چه پښتانه میلمه
پالنه او ډوډی ورکړه دځان
له غوره صفاتو څخه بولی او
دپښتنی ښاغلیتوب ستره برخه
یی بولی، نوموړی سامان هم
په دغه خپل پښتنی خوی او دستور
کښی خورا غښتلی او ښاغلی ؤ،
او یو پوره ډوډۍ مار. پښتو ؤ

د سامان د مالدارۍ ډول:

باختری (سامان) دنورو
پښتنو په شان دمیږو، اسونو او
او ښانو ستری ستری رمی او ګلی
درلودلی دپښتو نخوا په جګو
غرونو او سمسو روور شوګانو
کښی به دده رمی او ګلی
څرودلی چه له دې لاری دده شته
او سرمایه ډیره ښه وه په هره برخه
کښی به یې له پښتنو سره مالی
مرستی کولای شوای او دپښتنو
زیات مطالب به یی دخپلی مالی
مرستی له امله پرمخ بیول

پښتانه سامان د نورو پښتنو
په څیر داوښانو او او ښوالۍ
کسب هم کاوه داوښانو قافلی یی
لرلی، او ښان به یی چلول، داوښانو
په ذریعه به یی سوداګرۍ
کولی، له یو وطن څخه به ئی
بل وطن ته تجارتی مالونه وړل
لکه پخوانیو زمانو کښی
داروپا او غربی ایشیا او عربی
هیوادونو او د هندخوا او وته
دافغانستان او چن دمالونو
دنقل اووړلو لاره په وچه
دافغانستان لاره وه ځکه چه
داوبو لاری نوی کشف شوی
نو له همدغه کبله پښتو نخوا
په وچه کښی دتجارت ښه لاروه
او هرو مرو به دپښتو تجارو او
قافلو په دغه تجارت کښی برخه
لرله دغه سامان هم دپخوانیو
پښتنو په توګه داکسبونه
کول خپلی داوښانو قافلی به
ئی لنورو پښتنو سره چلولی او
داوښوالۍ کارونه به ئی کول او
هر کله به د پښتنو دقافلو سالار
هم و.

سر بیره پردې نومړی سامان
د خپل قوم پښتنو په اولسی
چارو کښی هم دواک او

اختیارا تو څښتن ؤ په خپلو
اولسی چارو کښی به پښتنو دته
مراجعه کوله او چه دغه سړی
دښه فکر او ښې قریحې خاوند ؤ نو
دخپل قوم په علمی روزنه او تربیه
کښی به یی هم هر کله کوښښ او
زیار ایست او له دغه کبله وو،
چه دخپله نبیره او زامن خورا
ښه روزلی وو دهغه عصر موروجه
علمونه ئی په لوستلی وو چه په پای
کښی دده ددغی علمی روزنی په
اثر وو چه په هواد کښی دده له
اولادی څخه ځنی لایق
اشخاص پیدا شول چه دمملکت
لویی چاری به یی اجرا کولی او
لوړی مملکتی وظیفی یی درلودی
لکه چه دسامان مشرزوی «اسد»
په هواد کښی ماموریت لاره او ښه
لوړه رتبه یی درلوده او دهغه زامن
بیا د همدغه خپل علمیت او
لیاقت په اثر لوړو لوړو رتبو ته
ورسیدل او جګ جګ منصبونه
ئی لرل لکه چه دطاهری حکومت
په دوره کښی دنوموړی اسد زامنو
ډیری لوړی چوکۍ درلودی او
ښه ترقی ئی کړیوه او دپښتنو
نامتو اشخاص ګڼل کیدل
او ددغی باختری سامانی کورنی

یو بل سړی چه «ابراهیم» نومیده
د پښتنو د طاهری حکومت
په دوره کښی دتولو پښتنی
قواوو سپه سالارؤ نوموړی سپه سالار
داسی یو پیاوړی او پوه سرافسر
ؤ چه د ده په وخت کښی
دطاهریانو دحکومت په دوره کښی
دپښتنو عسکری روزنه وعسکری
نوم خورا ډیر لوړؤ
دنوموړی «سامان» څخه وروسته
دده تبر او ځوځات په سامانیانو
معروف او کورنۍ ئی په «سامانی»
کورنۍ مشهوره شوه چه دغه
نامتو باختری پښتانه. سامان ته به
ئی نسبت کیدو په دغه عصر کښی
ددغی باختری کورنی اعتبار
او نفوذ دننه په هواد کښی ډیر
زیات شو او ورځ په ورځ یی نوم
لوړیدو چه په پای کښی په تولـه
پښتونخوا کښی ددوی نوم خپور
شو په دی وخت کښی چه په
افغانستان کښی ددغی پښتنی
کورنی داشخاصو نوم ډیر جګ
شوی او داعتبار انګازې یی په د
باندینیو ملکونو کښی هم خپری
شویوی نو دبغداد عباسی خلیفه
«المعتمد بالله» په دی غرض چه په
پوره توګه د پښتنو خپلوی ځانته

وګټی نو یی ددغی پښتنی
باختری کورنۍ یو ستر سړی
ته چه «نصر» نومید او داسد
سامانی لمسی ؤ چه نوموړی نصر
سربیره پرخپل لیاقت په پښتنو کښی
هم داعتبار او ښه نامه خاوند ؤ
او د ماوراء النهر د حکومت
دنیولو هڅه ئی هم کړی وه په
دغه وخت کښی نوموړی خلیفه
هم د ماوراء النهر دحکومت
منشور ده ته واستاوه لکه چه تر
هغه پخوا دابو مسلم دشهنشاهی
په عصر کښی د ماوراء النهر
پاچاهی دپښتنو واکوالانو په لاس
کښی وه او دپښتنی امپراتورۍ
له مربوطاتو څخه ګڼله کیده
له دغه تاریخ (۲۶۱) هجری
څخه وروسته بیاد ماوراء النهر
حکومت د پښتنو په لاس راغی
او امیر نصر سامانی دهغه هیواد
پاچا شو. له نوموړی امیر نصر څخه
وروسته دهغه ورور «اسمعیل»
سامانی هلته پاچا شو دی سړی
دخپل حکومت مرکز او
پایتخت د بخارا ښار وټاکو
ددغی پښتنی سامانی کورنۍ
پاچاهانو تر (۳۸۹ هجری)
پورې (۱۳۸) کلونه پرماوراء النهر

او پر ټول شمالي او غربي
افغانستان باندی پاچاهی لرله
او دایران دمملکت یوه برخه
لکه د (جرجان او طبرستان اوري)
ولایتونه چه تر دوی ړومبی
دپښتنو دطاهری حکومت په لاس
کښی وه «هم ددوی د حکومت
په مربوطاتو کښی وه دپښتنو
سامانی دولت پخپل ټول قلمرو
کښی اسلامی تهذیب او مدنیت
خورا ښه پرمخ بوت ددوی په
عصر کښی زیات علماء پوهان
او ادیبان را غلل او علمی
روزنی او تربیی زیاته ترقی
کړی وه دسامانی کورنۍ
پاچهانو دعلم او فضیلت په
خپرونه کښی خورا زیات کوښښونه
کړی دی لکه چه دامیر اسمعیل
سامانی په عصر کښی دده دعلم
او فضیلت خوښونی په اثر وه چه د
ابوفضل بلعمی» چه یو ډیر فاضل
او ښه عالم ودخپل دولت وزیر
مقرر کړی ؤ او له هغه وروسته
هم بیاد نوموړو سامانی علم
روزونکو پاچهانو په دربارونو
کښی به په هر عصر کښی پوهان
او کامل عالمان او فاضلان
وزیران مقرر اوو به چه ددوی
دولتی چاری به د ښو عالمانو

وزیرانو له خوا اجرا کیدلی لکه
چه ، ابوالحسن عتبی ، یو بل
ښه فاضل او کامل عالم شخص
هم د سامانیانو په دربار کښی
وزیر تیر شوی دی د نو موړو
پښتنو پاچهانو له دغو او ضاعو
څخه څر گندیږی چه د وی
د علم او فضیلت په نشر او خپرونه
کی زیات کوښښونه کړی ، دی.
نو ځکه د دوی په زمانه کښی
ډیر پوهان او فاضلان بیدا او
روزل شوی او علم او فن ترقی
کړی د. او په همدغه تو که
دا دیبانو پالنه او نازونه هم
د دغو پاچهانو له خوا هر وخت
جاری او کیدله.

سامانی پاچهانو په پښتنو او
پښتو نخوا کښی خوراښه اعتبار
او نفوذ لاره او سربیره پر افغانستان
پر شمالی او غربی سیمو باندی
چه مستقیما د دوی په لاس کښی
وی او د دوی د حکامو په لاس
اداره کیدلی ، د افغانستان
لمرختیزی او جنوبی سیمی هم
د دغو پښتنو سامانی پاچهانو تر
نفوذ لاندی وی ، د افغانستان
په شرقی او جنوبی خوا کښی
که څه هم د پښتنو کورنی پاچاهان
وو ، خو دغو کورنیو امیرانو به
له دوی سره هر و مرو رابطه
لرله او د دوی په مشوره
او خوښه به ئی کارونه
کول لکه چه غزنی ته د سامانی
پاچهانو د الپتگین نومی سپه
سالار تلل او په دغه منځنی مرکز
کښی د مستقل حکومت جوړونه
هم د دغې خبری پوره شاهد دی که
څه هم د سامانی پاچهانو د سلطنت
مرکز او پایتخت له خپل هواد
پښتو نخوا او خپل قوم پښتنو
څخه د باندی او د ماوراءالنهر
په مملکت کښی ؤ خو چه دا کورنۍ
لکه چه وړاندی مو یادونه وکړه
د پښتنو یوه پیاوړی او تاریخی
نفوذ لرونکی ښاخ او تبر ؤ نو همیشه
به د پښتنو راز له دوی سره شریك
او د پښتنو له خوا به د دوی ملاتړی
کیدله او هر کله به د پښتنو زور
او قوه د دوی مله او ملگری وه
چه د پښتنو د مټ په زور به د دوی
سلطنتی اداره چلیدله او غزنوی
دولت چه اصلاً د سامانی دولت
زاده او له سامانی دولت څخه
راز یږیدلی نو هغه هم د سامانی
امیرانو له خوا هر کله حمایه کیدو او
غزنوی دولت هم له سامانی دولت
سره هر وخت او په هره پیښه کښی
اخلاصانه مرستی کولی . لکه چه
د کاشغر او ختا له پاچهانو سره
د سامانی پاچهانو په شخړو کښی
د غزنی پاچهانو زیات کومکونه
له سامانیانو سره وکړل . د ختا
زمامدارانو او لښکرو ته بی
فاحش شکستونه ورکړل . —
دلته یو سوال او پوښتنه منځ ته
راځی ، هغه دا دی : چه وړاندی
مو نږ وویل چه (سامانی کورنۍ
یوه پښتنی کورنۍ او د پښتنو
یو نامتو پښه وه او د هغو د
اوسدنی ځای او اصلی تاتوبی
د پښتنو اصلی آریائی مرکز
بلخ (باختر) ؤ. نو ویل کیدای شی
چه هغه پښتانه چه په باختری
سیمو کښی او سیدل او هغه
ښاغلی پښتون تبر چه د دغو بلخی
او باختری پښتنو مشرتوب
د دوی ی په لاس کښی ؤ ، څه شول
او چیری دی ؟ ؟ او دا هغه
پښتانه وو ، چه نوم یی په نړی
کښی خپور دی او د غرځستان
(میمنه) پښتانه ابو مسلم
ملگری وو ، چه د عربی او اسلامی
خلافت مقدرا تو ته یی تغیر
ورکړی ؤ ، د بنو امیو په عوض ئی

د بنی عباسو خلافت منځ ته راووست-او ترایران او ماوراء النهر پوری ددوی دامپراتوری لمنی اوږدی وی او د آرین او پښتانه پت او برم یی ساتلی ؤ. او س په دغوسیمو کښی د هغو پښتنو هیڅ یوه نخښه هم نشته چه نه دوی او نه ئې برم نه یی نښأن شته. — د دغی پښتنی په ځواب کښی داسی ویل کیدای شی چه: داعالم دممکناتو عالم دی هر کله پر ممکناتو باندی حوادث او پېښی راځی او تغیر او بدلیدنی پکښی پېښېږی کله له یوه اړخ څخه بل اړخ ته شی او کله لیری او له منځه ولاړ شی عوض او بدل ئی پر ځای راشی. په دې ځای کښی هم هغه د تغیر او تبدل قانون جاری شوی دی، هغه پښتانه او هغه برم یی چه دابومسلم په وخت کښی ئی ښودلی ؤ، او هغه پښتانه او هغه برم یی چه د سامانی بلخی کورنۍ دباچهانو په عصر کښی څرګند کړی ؤ او هغه پښتانه او هغه برم چه ئې: دخوارزمشاهانو او غوریانو په زمانو کښی ښودلی وو، نشته او دامکان او حدوث د قانون له مخی دوی ولاړل اوس یی کومه نښه هم نشته یواځی دافسانی په څېر خبری ور څخه کیږی.

خودومره خبره ده پښتانه وایی: (مېړونه ځی نوم یی پاتېږی!) دلته هم هغه پښتانه او هغه نومیالی، تیرشول، مګر خپل باعظمته نوم او غور افتخارات یی زمونږ پښتنو په تاریخ کښی ثبت او پاته کړی دی، او پښتانه په هرعصر او هره زمانه کښی افتخار پری کولای شی او په وباړی!!!

اول پښتانه ابومسلم، بیا طاهریانو، بیا دلوړی پښتنی باختری سامانی کورنۍ پاچهانو بیا غوریانو، بیا خوارزمشاهانو زمونږ دتاریخ غوره برخه اشغال کړې ده نو که دوی نشته نوم او تاریخ خو یی راته پاته دی چه دپښتانه تبر د حیات او روحی او معنوی قوی موجبات کیدلای شی.

اوس به نو په لنډ ډول سره دابیان وکړو، چه دآریائیانو او پښتنو له اصلی مرکز باختر څخه او دهغه له خواوشا سیمو څخه یعنی دافغانستان له شمالی خواسیمو څخه له تخارستان څخه نیولې بیا تر بلخ او میمنی او حتی دمروې تر حدود وپوری له دغو سیمو تولو څخه چه دپښتنو اصلی او دپلار جدی تاتو بی ؤ، د پښتانه قوم دور کونې او فراریدلو موجبات څه او کوم کوم شیونه ؤ؟؟

وایو چه: اول-دمغولی چنګیز دخونخوارو او تباه کوونکو لښکرو یرغلونه وو دوهم-د هلاکو تباکارۍ وی. دریم- دګو د مغولی تیمور مظالم او تخریبی مهاجم وو. څلرم-دماوراءالنهر له خوادشیبانی حکومت چپاوونه اولوتونه وو پینځم - ماوراءالنهر د استراخانیانو دحکومت ورانوونکی تجاوزونه او تباه کارۍ وی چه زیات وختونه یی دافغانستان پر شمالی سیمو باندی متجاوزانه حملی کړی دی او دپښتنو مینی او کورونه ئی ور خراب کړی دی ددغو چپاوونو او دپښتانه تبر دمینو ویجاړولو او دهغوی

دتباه کولو کار په ابتدا کښې
په (٦٢٢هـ) کښې دمغولي چنګیز
له خوا شروع شوی دی ، او
دمغولي چنګیز وحشیانه یرغلونه
او تخریبي کارونه یو متواتر
او مشهور امر دی چه د نړۍ په
تواریخو کښې ثبت دی چه دنړۍ
ښځي او نارینه له هغو څخه خبرې
ورڅخه کوي که څه هم دچنګیز
چپاوونو تقریبا نیمه دنیا ورانه
کړه چه تر اروپا او غربي ایشیا
پورې ده ویجاړونې او تباه
کارۍ ورسیدې خو بیا هم
دپښتنو او دپښتونخوا او نورو
اقوامو او نورو وطنو په منځ
کښې چه ده تباه کړې دی فرق
او توپیر د پرزیات دی ، ځکه چه
له چین څخه دچنګیز خو ځیدنه
په ابتداء کښې یواځې له پښتنو
سره دجګړې په قصدوه او هر څه
لښکرې او حربي قوه چه ده برابره
کړې وه هغه توله یواځې له
پښتانه تبر سره دمقابلې او زور
آزمایني په غرض وه نو کوم
وخت چه دده هغه زیاتې چینې
لښکرې چه له تول چین څخه
یې راغونډې کړې وې ، دافغانستان
دحکومت دخوارزمشاه له لښکرو
سره مخامخ شوې ، یه اول
وار کښې پښتانه او دپښتنو لښکرې
دده دهغو خورا زیاتو لښکرو
مقابلې نه ور غلې او زیاتې
خونړۍ جګړې دپښتنو او دچنګیز
دقواوو په منځ کښې وشوې پښتنو
دومره زور ور ښکاره کړ چه
وطنونه یې ددوي په وینو ولړل
او زیات منصبداران یې چه په هغو
کښې دچنګیز یوزوی هم ؤ ،
دپښتنو له خوا اووژل شول او له
دې لارې دنوموړي چنګیز غیظ
او قهر نور هم زیات شو او دپښتنو
خرابولو تګ نور هم قصد زیات
شو خو چه دچنګیز لښکرې خورا
زیاتې او بې شماره وې نو بې
دچنګیز په برخه او پښتانه یې شا
شول دغه جګړې دومره اوږدې
شوې چه له خوارزم او دافغانستان
له شمالي سیمو څخه نیولې دهند
تر سرحد او دا باسین تر غاړې
پورې لو پشت په لو پشت دپښتونخوا
په خاوره کښې دپښتنو او دده
دلښکرو په منځ کښې خونړۍ
جګړې کیدلې جلال الدین
خوارزمشاه او دپښتنو نور وافسرانو
تر پایه پورې له جګړې څخه
لاس وانه خست او نه یې دتسلیم
سر چنګیز ته ټیټ کړ ، او دچنګیز
هم زیاتې لښکرې له پښتنو سره
په جګړو کښې تباه شوې .
نو چنګیز چه فطرتاً هم یو خونریز
او تباه کار شخص ؤ ، او چه
پښتنو ته یې هم زیات قهر راغلې ؤ
نو یې له هیڅ ډول خونریزۍ
او تباه کارۍ څخه سوماونکړه
په تول افغانستان په تیره دافغانستان
په شمالي برخو نخارستان ،
بلخ غرجستان (میمنه) او دهرات
په سیمو کښې خوبې دپرزیات
زورو لګاوه ودانۍ یې ونړولې
ښارونه یې ویجاړ کړل ، قتل
عام یې کاوه حتی سر بیره
پر جګړنو ، اطفال او ښځې یې هم
وژلل . وائي کله چه چنګیز
دغزنۍ سیمې ته راغی نو یې بیخي
دمطلق ژوندي جان دوژلو او عام
قتل او امر صادر کړل او دغسې
کیدل چه حتی غوایې خره ، او
سپې ئې هم وژل نو دداسې ظلم
او تباه کارۍ له کبله ؤ چه
پښتانه مجبور شول خپلې مېړنې
بې پرېښودلې غرونو ته وختل
او یا دافغانستان جنوبي او شرقي
خواوو ته وتښتیدل او څوک دهند
خاورې ته هم ولاړل په تیره

دافغانستان شمالی سیمی چه له
تخارستان بلخ ومیمنې څخه
عبارت دې هغه خرې لا په اول
کښې خوشی کړی :- ورپسې
هلاکو، راغی داسړی هم دنوموړی
چنګیز له اولادی څخه و دې
شخص هم اول په افغانستان بیا په
نور وطنو کښې تخریبات او تباهۍ
عملی کړی. دریم ددغی ظالمی
مغولی کوڼ نۍ یو بل سړی
راپیداشو چه هغه له ګوډ تیمور
څخه عبارت ؤ دې ګوړ تیمور په اول
کښې دماوراءالنهر مغولی
چغتائی حکومت ونیو بیا افغانستان
ته راغی په بلخ کښې ئی جغتائی
امیرحسین وواژه او په افغانستان
کښې دده او دپښتنو تر منځ
زیاتی اوخورا خونړۍ جګړی
وشوی اوډېری زیاتی وینی
تویی شوی.
له دی کبله چه په دغه وخت کښې
دپښتو دزاړه غلیم جغتائی حکومت
کمزوری شوی او له سیکه لویدلی
ؤ نو پښتو مشرانو وغوښتل چه
ددغه بد خواه حکومت ریښې
په افغانستان کښې و کاږی او خپله
خپلواکې بیرته واخلی نو په
کلکه راپاڅېدل او دچغتائی
حکومت له محو کېدو وروسته
یی دخپل استقلال اعلان وکړ
نو له نوموړی تیمور سره چه هغه
هم دهغه ستر مخرب چنګیز.
له اولادی څخه ؤ دمقابلی
لپاره راپاڅېدل او په کلکو مقابلو
یی ورسره لاس پوری کړ!
خو چه پښتانه اول دمغولی
چنګیز له خوا زیات ربړیدلی
او بی وسه شوی وو، او دهغه
داولادی جغتائیانو له خوا هم
هر کله تر تر ټنه او سرکوبۍ
لاندی وو، چه دساسمېدلو ته به
یی نه پرېښودل نو ډېر کمزوری
وو نو طبعاً په دې جګړو کښې
غلبه دګوډ تیمور په برخه شوه
او پښتانه مغلوب شول په افغانستان
کښې له پښتنو سره دتیمور جګړی
ډېری اوږدی شوی (اته) کاله
یی دوام وکړ په دغو جګړو کښې
دپښتو زیاتو او اکثر و مشرانو
تر خپله خاوره سرونه قربان
کړل او زیاتی قربانۍ یی ورکړی
نو په پای کښې په دغو وختونو کښې
هم ددغه ظالم ګوډ تیمور له لاسه
دپښتنو مېنی ورانی شوی په تیره
دافغانستان په شمالی برخو تخار
او بلخ (باختر) او میمنه کښې
خو دپښتنو دورکولو کارزیات
عملی شو.
کله چه پښتانه دافغانستان له
شمالی خوا وو تخار او بلخ او
میمنی له سیمو څخه ولېږدېدل
نو اول جغتائیانو بیا نوموړی
تیمور دپښتنو ددغو مېنو او وطنو
اشغالولو دپاره دماوراء
النهر ځینی وګړی راوستل.
دپښتنو په همدغو مینو او وطنو
کښې ئی واچول چه تر اوسه
پورې لا هم شته دی.
دریم: په ماوراءالنهر کښې
دتیموری حکومت څخه وروسته
دشیبانی حکومت په نامه حکومت
منځ ته راغی او دماوراءالنهر
ټول هیواد او ټولی مځکی یی
په لاس کښې ولویدی دا حکومت
ذاتاً یو ډېر مستبد حکومت و
او دهغه اداری چاری دزیاتو بی
رحمو او ظالمانو خلکو په لاس
کښې وی دغه حکومت تقریباً
یوه پیړۍ له (۹۰۶ هـ) څخه
تر (۱۰۰۷ هـ) پوری دوام وکړ
دغه حکومت هم داسی رویه نیولی
وه چه دپښتو نخوا پر شمالی
خوا باندی له تخارستان څخه
تر بلخ میمنی او هرات او حتی

نیشاپوره به یی، اکثره اوقات
برغلونه اوتجاوزونه کول او
دداسی برغلونو اوحملو په اثر
به یی لوتونه اوچورونه کول
داوطنونه به یې لکه دغلواو
دارمارانوغوندی چوراوچپاول
کول له دغه کبله به پښتانه اذیت
اومتضرر کیدل خپلی مینی او
خپل وطنونه به یی پریښودل
دافغانستان دهندوکش دغرونو
دې خواوته به راوښتل.

له شیبانی حکومت څخه وروسته
بیاد (استراخانې) په نامه یو بل
حکومت په ماوراءالهنر کښی
پیداشو دغه حکومت له (۱۰۰۷ هـ)
څخه تر (۱۱۶۷ هـ) پوری دوام
اوپاچاهی کړې ده ددې استراخانی
حکومت رفتار هم لکه دپخوانی
شیبانی حکومت په شانی و
دافغانستان پرشمالی سیمو باندی
به یی تجاوزونه، برغلونه کول
په دغه ولایتونو کښی به یی بوالحی
دلوټ اوچور په ډول استفاده
کوله خلك به ئې شکول مالونه
اوهستی به ئې دو کړو چورولی
ناارامه کول به یی ربړول به یی
بی موجبه ئې خورول او وژل

به یی چه په پای کښی به خلکو پرته
له تښتې اوخپلو مینو پرېښودلو
څخه بله کومه چاره نه درلوده
یعنی هرومرو هغه پاته پښتانه
له دغو خپلو وطنو بیزاره کیدل
د هندوکش دی خوا جنوبې
سیمو ته به راتلل.

نوچه تقریباً پنځه قرنه پرلپسې
پر پښتنو باندې د دښمنانو له
خواداسی تیری اومظالم اجرا
شوی وی مخصوصاً دپشتنو په
ابائی مرکز بلخ او باختر او
میمنه اوتخارستان کښې نودوی
مجبوره ووچه داخپلې پلارنۍ
مېنې به ئې حتماً او
هرومرو پرېښودلې او نورو
خواوته به تللی وی.

او دامغولې حکومتونه دپښتنو
اصلې اواساسی دشمنان وو،
هرکله به ئې کوښښونه کول
چه پښتانه ورك کړې
اوپرځای او وطنونو کښې ئې
نور څوك میشته کاندی نو
دغوباچهانو د بلخ او تخار او میمنې
دپښتنو په عوض چه دا وطنونه
بی تخلیه کړی وو، نور څوك

راوستل چه هغوی د ماوراء
النهرد اوزبکو او نور کمنو له
نژاد څخه عبارت دی چه له هغو
وختونو څخه تر اوسه پوری
دانوی خلك زمونږ د پښتنو په
خاوره کښې میشت او استوګنه
لری خواوس زمونږ وطنوال
ګڼل کیږی، اومونږ بی هم خپل
وطنوال او مسلمانان ورونه بولو
د دغه بورتنی بیان له مخې
کیدای شي چه دښاغلیو لوستونکو
قناعت حاصل شوی وی او هم
دهغې پوښتنې ځواب بشپړه وپل
شوی وی چه هغه یخوانې
پښتانه چه غرجستانې ابومسلم او
دسامان کورنۍ او خوار
زمشاهان یی مشران وو، څه
شول او دوی اودغه مشران
بې کومې خواته ولاړل اودا
خپل آبائي آریائي مرکزونه
یی چه له بلخ، تخارا وجوز
جان څخه عبارت دي چا نه
پرېښودل؟ بیاوا یو چه ددغه
خبری ځواب له بورتنیو خبرو
څخه واضح اوڅرګند دي.

ښاغلی واسعی

(دژبی سپېڅلتیا)

دځینو ذواتو دافکر وی او
بردې عقیده کلك ولاړ وی چه
ژبه باید پاکه اوخالصه وی
هرڅه لغات او کلمات ئې خپل
وی، نورو ژبوته باید نه وی
اړه اودیر دیو ژبو دلغاتو او
کلماتو څخه دی سپېڅلې وی.
بلکه پوره اومکمله ژبه. روزلې
اولاس په وهل شوی ژبه هغه بولی
چه همدغسی وی یعنې لغات او
محاورات ئې ټول خپل وی او
بلی ژبی ته ئې داحتیاج لاس نه
وی غزولې او نه ئی څه ځنی
عوښتی وی.

خو دافکر او نظریه کوم
علمی، اساس او بنسټ نلری او
داسی آرزو کانی اوهیلی نه تر
سره کیږی، او نه داسی ارمانونه
کله ختلی اوپوره شویدی ځکه
چه ژبی هم لکه د ژوند نور
شرایط چه دنړۍ دو کړو اوټول
بشریت سره مشترك دی د مللو
اومما لکو تر منځ سره گډی
اویوه په بل سره پوره دی لکه
یو فرد چه یوازی او په یوه سر
ژوند نه شی کولای یا لکه
یوه کورنی چه ځان ته او علیحده
ژوند ته دوام نه شې ور کولای
یا لکه یوه ټولنه یا یو ښار او په
آخر کښی یو مملکت او ملت چه
دژوند او اجتماع پرډ گر منفردانه
حیات نه شی گا للای همدغه
ډول ژبی هم یو بل ته احتیاج
لری په هیڅ شان یوه ژبه پخپل
ځان یوازی نه پوره کیږی او نه
د نورو ژبو بی مرستی خپل
دوجود اثبات کولای شی.

لکه هر فرد او هره کورنۍ
او هر مملکت هر ملت چه دژوند
ضروریاتو کښی یو له بله سره اړ
او محتاج دی کټ مټ ژبی هم
پدغه شان دی یوه و بلې ته احتیاج
سره لری هیڅ یوه ژبه پخپل
کور کښی دځانه څخه نده پوره
او دبلی ژبی داړۍ او احتیاج
څخه نده وتلې او نه دا ممکنه
شوی ده چه کومه یوه دی پخپل
کور کښی پوره شوې او د بلی
ژبې داړۍ څخه وتلی وی
داخبره دعلمی دلائلو په اساس
لیری ښکاری چه کوم ملت ووائی
چه ددوې ژبه دی پاکه او
سپېڅلی او دنورو ژبو د کلماتو
څخه سیچه او سپینه پاته وی
ځکه په دی حال کښی چه دا
گړۍ دنړی ملل او اقوام ټول
په یوه زغ دمشترك ژوند او باهمی
حیات زغونه کوی او یو و بل ته
دژوند په ټولو شرائطو کښی اشتراك
ته ځان آماده کوی او ورو ورو
دومره یو له بله سره نیزدی کیږی
چه تقریباً ټوله نړۍ دیوه کور
حکم ومومی په غم او ښادی کښی
داسی سره شریك وی چه دیوه
ملت غم د بل غم او خوشحالی او ښادی
ئې دهغه بل ښادی وی نو دا به
څنگه او څوك وویلای شی او
که ووائې څنگه به ممکنه شی
چه دیوه ملت ژبه دی یوازی
د هغه ملت ژبه او ټوله دی دهغه
محیط دمحدود و لغاتو څخه
جوړه شوی وی سره له دی چه دی
په ټولو شرائطو کښی نورو
مللو او اقوامو ته محتاج وی
او دهغو بې مرستی او لاس غزونی
به خپل ملی موجودیت ته

دوام نشی ورکولای یا به ئی
دمشکلا توسره مخامخ بولی.

اوس خو یدې خبره افراد
په افرادی ډول او ملل
اوجوامع په ملی اوجامعوی
ډول پوهه بلکه په یقین ئی زړه ته
لویدلی دی چه نړۍ روځ په روځ
سره نزدی کیږی او ملل ټول
یو په بل سر متأثر کیږی
نابلدی په بلدیت، نا پېژند
کلوی په پېژند کلوی، جهل
اوناخبری کړۍ په کړۍ
په پوهه اوعلم الېشیبری، مونږ
نور پیژنو نورومونږ ښه پېژندلی یو
او د زیاترو مللو سره موژوند
په یوه ساحه اوتر ډیری اندازی
مشترك یالږ تر لږه نږدې
کېدونکی دی، تهذیب تمدن
اقتصاد تجارت، معارف، علوم
فنون، کلتور، ثقافت، افکار
آراء نظریات او عقاید، ایده
آلونه اومرامونه، منافع اوملی
غرضونه تقریباً یوه نوعه تشابه
اوتماثل سره موندلی دی،
ملل اواقوام دژوند په کډو
اومشترکو شرائطو کښی تقریباً
سره ورته اوتوله پر یوه لار روان
دی حیات اوژوند پر یوه واحد
خط سیر کوی او داجتماعی
ژوند مشین پر یوه محور
راګرزی دټولو مللو دآمالو او
هیلو ددائری مرکز یوه نقطه
تشکیلوی او مرام وهدف تقریباً
متحد شوی یا مخ دانحاد پر لور
روان دی نو آیا ددې حاله سره
داآرزو کېدای شی چه دنړۍ
کوم ټبر ځان ته دیوې داسی
ژبې کوشش وکړی چه په هغی
کښی دی د کومی بلی ژبی لغت
نه وی اخیستل شوی یا دی
دبلی پردۍ ژبې دالفاظو
کلماتو څخه مرسته او استفاده
نه وی کړی.

تاریخ مونږ ته پخپلو ساده
ادوارو کښی لاهم د داسی
کومی ژبې څرك په لاس نه شی
راکولای. چه هغه دې
فقط پخپل کور کښی
دځانه څخه پوره اودنوروژبو
دلغاتو څخه دې په استغنا او
عدم استفاده ژوند کړی وی.
دادنړی دعمرانی طبیعت څخه
ډېر لیری ښکاری چه دبشر افراد
دی یوله بله په انفرادی ډول،
اوجوامع په اجتماعی ډول سره
اړوی مګر ددوی ژبی دی
داحتیاجه څخه مستغنی وی اود
هرقوم ژبه باید په اقوامو کښی
دیوه قوم ژبه پخپله یادژبی د
څښتنانو په کوښش سیچه او
سپېڅلی پاته شی یائی دوی سچه
کړی اووې سپېڅی.

مونږ یا هر ملت چه پخپله
ترشا پاته وی اودنورو په مرسته
ځان تر یوه ځایه رسول غواړی
اود نورو له ډیوې څخه خپل
تیاره کوټونه رونول غواړی یعنی
علوم، فنون، تهذیب، تمدن، علم
تخنیك ورڅخه راوړی اوځان
ددوی په دود کوی نودا به څنګه
ممکنه وی چه هرڅه دې ځنی
واخلی او خپل ټوله احتیاجات
دی ځنی دلاسه کړی علوم او
فنون صنائع او تخنیك دی ځنی
اقتباس کړی مګر ددوی ژبه دی
پرخپل حالت پاته وی هیڅ تغیر
او تحول به نه پکښی راځی یا به
سچه اوسپېڅلی پاتیږی، که دا
صورت ممکن شی یعنی چه یو ملت
دثقافت اوعلومو اوصنایعو
لخوا نهضت ومومی اوژبه ئی په
هغه شان پرخپل محدود اوعادی
حالت پاته وی نو به د تناقض
ناموس هم مات شی او دنقیضینو

اجتماع چه ترنن ورځی پوری
له محالاتو څخه بلل شو یده ممکن
و بلل شی او دا خو امکان نه لری
بلکه تر هر څه دمخه ژبه متأثره
کیږی، متأثره لاڅه چه نوی
کیږی او دخپله اولنی حالته
څخه تحول کوی مخ دار تقاء
او تکامل پر خواه روانیږی
توله اقتباسی علومو او فنونو،
تخنیك او صنعت ته پخپله غیږ
کښی ځای ور کړی یوه عصری
او مکمله ژبه دځان څخه جوړه
کړی چه دنوی ژوند او عصری
حیات پر ډګر مجهزه ژبه ورته
وویل شی.

اوس اوس زمونږ علمی کاروانونه
او د عصری علومو یونټونه
دمترقی نړۍ هری خواته روان
دي، لږ موده وروسته به زمونږ
وطن او مملکت دخپلو محصلینو
په ربړ او زحمت دیوه عصری ژوند
او ترقی حیات سره لاس ترغاړه
کیږی او مملکت یوه مجلل او
روښانه ژوند په انتظار ولاړ دی
نو له دی حاله سره داڅه ډول
ممکنه کیدای شی چه زوړ ژوند
په نوی ژوند اوړی او د زړی
اجتماع په کالبد کښی دزاړه
روح پر ځای نوی او تازه روح
چونیږي مګر ژبه دی پر هغه
حال پاته وی هیڅ تحول دی
نه وی په کښی راغلی، او د
تجدید او نوی والی وږمه دی
نه وی ځنی نه ښتی.

زما په عقیده ژبه سچه
او سپیڅلی ساتل پدی معنی چه
دپر دیو ژبو لغاتو ته دورننوتلو
اجازه نه ورکول کیږی
دژبې دمرګ او محویت پیغام
دی، ځکه کومه ژبه چه دعصر
دایجاباتو سره سچه وسعت و نه
مومی او دهری روځی داقتضاء
سره ئی لمن پراخه نه شی او دافادی
دپاره ئی دبین المللی لغاتو او
اصطلاحاتو، او علمی او فنی
تعبیراتو ذخایر تقویه نه شی
هغه ژبه په آخر کښی مری
او دمرګ ترتورو خاورو لاندی
شی دفناتو ره پرده پرې وغوړیږی.

دژبې سپیڅل او سچه ساتل
په پورته معنی ډیر دروند او
خورا ګران بلکه ناممکن او
محال کار دی او آخر ئی
ناکامی ده، ځکه دی کار ته تر
مونږ دمخه نور اقوام هم
وروړاندی شوی او داوه لکه
په مونږ کښی چه ځینو ته
روولاړه شوی ده دوی ته هم ورپیښه
وه مګر وروسته تر پوره کوښښ
چه پخپلو ټولو قواؤ سره ئې
وکړ بیا هم ناکام شول او
داهیله ئی لکه مونږ ؤ تاسی ټولو ته
چه معلومه ده تر سره نه شوه، سره
له دې چه هغو ته دخپلو وړو او
قدیمه بومی ژبو دلغاتو ذخیری
په مدونو قوامیسو کښې په کافی
اندزاه موجودی پرتی وی مګر
بیا هم پدې عملیه کښی چه ددوی
په تعبیر ئې (تطهیر) باله سخت
ناکام شول نو مونږ به چه
ذخیره هم نه ورته لرو څه
وکړای شو او څه به لاس ته
ځنی را شي؟

ددې نظر ئی طرفداران او دهمدغی
عقیدی څښتنان چه پښتو ژبه
سپیڅلی او خوا پاکی پښتو غواړی
څنګه چه ماته بر ېښېدلې ده
دوه فکرونه لری یو دا چه د پښتو
دجامعیت او دومره زړو لغاتو
دموجودیت قایل دی چه که هغه
راغونډ او ژوندی شی تر ډیری
اندازی مونږ داړی څخه باسی
بل دا فکر ددوی سره موجود
دې چه علاوه دزړو او مړو لغاتو

پرراغونډولو او ژوندی کولو
که بیاهم اړی او احتیاج رفع
شی هم باید دخارجی لغت او د
نورو ژبو د کلماتو څخه ځان
وژغورل شی او ژبه په ککړه
نه شی بلکه د پښتو په چوکات
کښی دننه او په همدغه بڼه نوی
لغات پخپله دژبی د نسل او مادی
څخه جوړه او عند الزوم احتیاج
په لیری شی، نو دا لغات په هره
قیافه او هر تشکل او قطع چه وی
خو چه ددغې موره څخه زېږېدلی
او ددی «پرتی» ئی خوله ایښی
او ددی بی ئی رودلی وی.
ددی دواتو ددی فکر اصلی
منشأ داده چه ددوی په عقیده
د پښتو په سپیڅتیا کښی د ننه

او ور سره ور سره ددی تبر
دپښتنوالی او پښتو نتابه غرایز
او سجا یاسم ژوندی ورسره پاته
کیدای شی او دملی غرور او قومی
ذوقونو او ممیزاتو سرې سکروتی
به تر هغو څو ددی ژبه سچه او
سپېڅلی وی له ایرې کېدلو څخه
په امان پاته وی یعنی دوی
پښتون تر هغو پښتون او پر
پښتنواله پاته بولی چه پښتو
ئې ژبه، او سچه او سپیڅلی ئی
ساتلی وې، که څه هم د دوی
دافکر ډېر دقدر او احترام وړ دی
او هر پښتون چه د پښتنو او د پښتو
سره مینه لری په ډېر احترام
او تمجید ئې باید وګوری، مګر
یو شی چه باید وویل شی هغه
دادې چه د بشر دوړاندی تګ

او تقدم قافله ډېره په سرعت
روانه ده او دا قافله د فن او
تخنیک په (لم) پورې تړلی
او داسی مترو که پسی ختلې ده
چه بی دعلومو او فنونو له پښو
څخه په بله پښه څوک ملګری
نشی ورسره کولای او علوم او
فنون قوی ژبه او کامیابه افاده
غواړی او یوې علمی ژبې ته
ضرورت لری نو باید ژبه یعنی
پښتو قوی کړو او دعلمی افادی
قوت ئی زیات شی او دا په همدغه
کېدای شی چه پر ژبه دعصری
او علمی اصطلاحاتو ورونه
وپرانیځو، رادار، رادیو، راکټ
تلویزیون او داسی نورو ته
په همدغو نومونو اجازه وکړو.

په هرچا کښې چه د ځان دپاره خیر او ګټه نه وی دنورو
خلکو دپاره هم په کښې خیر او ګټه نشته (انس بن مالك)

بسم الله الرحمن الرحيم

د بنګ مسافری

په مسجد کښې د هر وخت ترلمانځه د ماز دیګر او ماشام په وخت لمونځ غاړی ډیر وی او د یو صف په ځای دوه دری صفونه در یږی نوی ملا چه وروسته تر یوی میاشتی د کلی د ملا په حیث مقرر یږی ، د ماز دیګر ترلمانځه وروسته وعظ ګوی او خپل دغه وعظ د ماښام ترلمانځه پوری اوږدوی دده د وعظ مهم تګی دغه وی که څوك د ماز دیګر د لمانځه نه د ماښام ترلمانځه پوری مراقبه شو او وظیفه ئې کوله نو به ډیر درانه ثوابونه وګټې او د خدای تعالی رضا به حاصله کړی په تیره بیا که د ماښام ترلمانځه وروسته ئې نفلونه هم وکړل نو د هغه د ثوابونو او عوضونو په باب کښې خورا ډیر تفصیلات ورکړی او حاضرین خوښ کړی په دغه وخت کښې پخوانی ملا صاحب لږ څه زړه سوړ ښکاره کیږی او کله کله نوی ملا ته د ستر ګو په کونجونو په اعتراض ناك نظر وګوری او بیا په سر څادر ښه کښ کړی او خپل شونډ ان داسی وشوروی چه ته به ووائې چه اوس په زور خپل اعراض ټولو ته واوروی او په دغه توګه به د مسجد آرامه اوله صلحه ډکه فضا په خوابدی واړوی .

کله نا کله چه له مسجد نه راووځی پخوانی ملا صاحب خپلو ځینو نتیانو ته په رو ووائې : دغه ملك خور انار واسړی دی زړه سوی هیڅ نه لری زیاتره حرکات ئې له شریعت نه مخالف دی که مړ شو ځمکه به ځای ورنه کړی

هیڅ وخت ما دی بیخې دوخته سره برابر په مسجد کښې نه دی لیدلی دملا صاحب دغه نیتیان دکلې په چارو کښې هیڅ واک نه لری ځکه چه دوی بزګران دی او خپلې ځمکې نه لری .

یوه ورځ یوه بزګر له دغه بل څخه پوښتنه وکړه چه خلك ولی پخوانې ملا صاحب له ملائی څخه باسې ؟ هغه ورته وویل خبر نه ئی دملك لور ناروغه وه ملا دهغې پوښتنه ته نه ؤورغلې او بیا دملك خورزه نا جوړه شوه پوښتنې ته خوئې البته ورغلی ؤ، خو هغه خوار کسی بې یاسینه تیره شوه او ملا.... په هغه شپه بل کلی ته تللی ؤ او وئی نه کړای شو چه په هغی باندی یاسین ولولی له دی کبله ملك ور باندی په قهر شو او له بل ځای نه ئی نوی ملا را ووست او غواړی چه وروسته له هغه چه ربې واخستلی شی او دزاړه ملا حساب خلاص شی نو نوی ملا ودروی .

دنوی ملا وعظو او نصیحتو دکلی په خلکو په تیره بیا په سپین زیرو اغیزه کړې ده دسهار لخواهم څو کسه تر پاخه چاښت پوری په مسجد کښې ناست وی وظیفه کوی او دمازیګر له خواهم . خوزنی په دی ترتیب دومره پروانه کوی او څرنګه چه دمازیګر لمونځ وشې تول راووځی او دمسجد دیوال ته چه په منی اوژمی ښه لمر څرکی هم وی کښینی په ورځنی ژوند کښی دغه د مازیګر او ماښام تر منځ وخت خورا خوږوی او خلك په خور اښه خوا او په پوره زړه مرکې او خبرې کوی او غه خبرې په هر باب ښی وی زیاتره معاملې او سوداوی هم په دغه وخت کښی کېږی یعنی مېږ په وزه او غویی په غوا سودا کوی او داسې نور کارونه په همدغه وخت کښی کیږی دځینوز لمو بزګران خو ماښام لمونځ هم کله نا کله

هیرشی او پخپلو سودا وو کښې تر ډیرو بوخت وی. خو دماخستنی لمانځه دپاره که مسجد ته راغلل دنوی ملاله خوا په خورا نرمه او خوږه لهجه ورته وویل شی چه بله ورځ لمونځ مه هیروی ء او تل دخدای فرض ادا کوی ء.

یوه ورځ دمسجد ددیوال په همدی لمرڅیکی دوله ځای کښې (پړانګی) نومی بز ګرله (ننګ) څخه چه (۱۹) کلن هلك دی پوښتنه وکړه چه سبز کال دې څه په نیت کښې دی؟ دغنمو بوګری خومی دې ولیدی چندان مزه خو ئی نه وه ځکه چه آخری او به په وخت ته دی ورته رسیدلی او دغنمو دانه ئی راته ډنګره او پوچه ښکاره شوه؟ که دې یوه پلانور هم او به ور کړی وای دسړو شپو شومه به دې ورځنی اخستی وای؟ بنګ په داسې حال کښې چه په یوه زنګینه ستن ئی له پوندی نه ازغی کښل ورته وویل چه: څه وکړو روره!

بادارژر او به پالیز ته واړولې او زمونږ دغنمو دانه ئی را پوچه کړه. وروره! څه نه شو ویلای که وایو غوږ پری کیږی او دغه بوګری را باندی دریږی! وړم کال مو یوه سپین ستر ګی وکړه، او بادار ته مې وویل چه (سبز برګ) لکه باغ، پالیز شپیشتو او داسی نورو ته او به ژرمه اړوه ځکه چه دغنمو وږی کوچنی راځی او هم ئی دانه، نه غوښنه کیږی مګر نتیجه دا شوه چه دهغه (بوګری) بز ګری ئی راڅخه وګرځوله، او پرو سبز کال ډیر په عذاب وم، بیا مې څو ننواتی پرو کړې او هم مې دستانه ؤ یوه مرکه او جرګه وروستله چه بیائی دشبانه روز دیوې څلرمی برخی بز ګری په مټی را کړه، نو وروره څوك چه خپله ځمکه او او به نه لری دهغه به دغه حال وی او نه به څه کولی شی او نه به څه ویلی - له بیرې مو په خپله ∴ ه

لاس ایښی دی

پړانګی لږ څه تندی تر یو کړ او وې ویل چه :

ملګریه ! د دی خبرې یو ښتنه در څخه کوم چه سبز کال دې څه په نیت کښې دی او کومې خوا ته ځې ، چیرته په سروشپو کښې نس اړوی ؟ تا دبز ګرۍ نکل راته ډیر اوږد کړ ښه ازه پوهیږم چه ته په دې خصوص کښې هم خورا اوږده اوږده نکلونه کوی خو بیر یږم چه دماښام لمونځ رانه قضا نه شي او بیا به دنوی ملا په خوله کښې ولوېږو او دتولو په مخکښې به مو (سره سنۍ) کړی . درځه درولاړ شه ! آذان خووشو ، د دنیا خبری به بیا کو و . ترتا زما زړه له بادار څخه دړ وړی دی که زه خپل داستان درته شروع کړم او د خپل زړه پرها رو نه درته وښیم خپل به دې هیر شي ، څه کوی ور وره ! دا دنیا زمونږ ؤستا سې دپاره نه ده خدای دې په هغه جهان کښې عوضو نه را کړی بله هیڅ چاره نشته ،

نوی ملا تل وروسته تر لمانځه خورا اوږ دی ، اوږ دی دعا ګانې کوی ، مثلاً وائې دعا و کړی چه خدای مسافرونه خیر پیښ کړی ـ بیا په هغې پسی وائی : یوه بله دعا دعا لم اسلام دپاره و کړیء :) خدایه اسلام ته بری او کفرته شکست ور کړې خدایه دظالمانو له ظلمو څخه نجات را کړې ، اوداسې نور ...) دعا ګانې چه پای ته ورسېږی نود لمانځه دثوابونو او نفلو نو د کولو په باب کښې څو خبری کوی او هم وائې چه وروسته ترلمانځه چه دعا ګانې هرڅومره ډېری وی هغو مره ئې ثوابونه ډېری وی او دقبلېد وامیدئې زیات وی ځکه چه خدای (ج) په دی ډېر خو ښیږی چه بند ګان ئې ډېر څه له ده نه وغواړی .

بومورخ دلمانځه نه‌وروسته (بخوانی ملاصاحب) خلکونه مخ راواړاوه اوور ته ئی وویل: زه خولکه چه تاسو ته معلومه ده در شو داخستلو تروخته یوري دلته یم اوخرنګه چه رشي واخستلی شی او زماذکا تو نه را کړي بیابه دخیره سره درنه رخصتیږم، خو یوشي دلته لازم کنم چه تاسو ته ئي ووایم هغه دا دی چه کو چني اختر (عید فطر) بیخي نژدي دی او صرف یوه میاشت ورته پاته ده او هر کله چه تو ل کال لمو نځو نه ما در کړی دی او په مړي اوژوندی مو زه حاضروم، نو (سرسایه) زما رسپږی اوزه ئي د خپل ځان حق بولم، اوهیله ده چه تاسو به هم هغه ماته را کړی، اوپه دغه نو که به حق خپل حقدارته ورسپږی

له سا ایستلو او د خپلي سپینې یګړی د وله د سمواونه و ر و سته؟ ئي بیا وویل چه داخبره می ځکه د لته و کړه چه ما اورید لی دی چه ځینې کسان خیال لری چه (سرسایه) (نوی ملا صاحب) نه ور کړی دا کار به زما به حق کښې ستر ظلم وی اوله تولو څخه هیله لرم چه دا ترزړه وباسی چه خپله (سرسایه) به ماته را کوی ځکه چه دالس بوولس میاشتی لمو نځو نه مادر کړی دی

(نوی ملاصاحب) لومړی به خپل تندی اوزبره باندی لاس راتیر کړ او بیائي غاړي تازه کړی او بر را زغ ئي کړه (اول خودا ضروری او حتمی نه ده چه (سرسایه) به هرو مرو ملانه ور کوی. خو ځکه چه دارسم او عنعنه ګرځیدلی ده چه ملا نه به ئي ور کو ی اوهرڅوك ملاتر نورو مستحق ګڼی نو البته ښکاره ده چه (سر سایه) د هغه ملا حق دی چه به محراب کښې ولاړوی اوجمع وریسی کېږ ی.

(پخوانی ملا صاحب) داوینا پرخوابده ولګوله اومخ ئی له ډېره قهره سور واوښت او (نوی ملا) ئی مخاطب او تهدید کړچه ژربه ولاړ شی او عرض به پری وکړی . او په داسی حال کښی چه تول بدن ئی له ډېره قهره رېږدېده له ماجت نه ووت او مخامخ علاقه داری ته ولاړ .

بله ورځ بیا مازیګر دعادت په توګه (پړانګی) او بنګ) د مسجد دیوال ته دنورو خلکو په ډله کښې سره ناست وو (پړانګی) دا بنګ) تشی ته ګوته وروړه او هغه ئی خپلې خواته ملتفت کړ، بنګ دنسوارو ډبلی راوکېښ او په داسی حال کښی چه له بل چا سره ئی خبری کولې هغه ئی پړانګی ته له بغل سره ونیو پړانګی ورته وویل چه ښه وروره! دا دومره شپې مو په ښه توګه او مفصل ډول نه وو سره لېدلی زما خوتل به زړه کښی ئې! داسې مې پوه کړه چه راشه دی واخستله؟ او څومره غنم درغلل؟ بیائی دخپل اورغوی نسوار خولی ته واچول او په داسی حال کښی چه پخپله ژبه ئې دنسوارو ګرزله خپلو غاښو څخه په ژبه پاکاوه او شونډان ئی ځمول د (بنګ) ځواب ته منتظر شو .

بنګ تندی تر یو کړ او سر ئی کښته واچاوه او په داسې حال کښی چه ځمکه ئی پخپله ګوته ګروله ورته وویل چه: زمونږ او ستاسو څودانو ته راشه نه ویله کېږی، خو بیا هم شکر دی مونږ ؤ تاسی باید په هر حال کښی شکر وکاږو وروسته تر هغه چه د ملا (ذکات) د ملك ملکی، دپښ حق در کانه رکښی تخم د چړیانو نینی می ورځنی ورکړې نو .

(۱۲) منه غنم ماته پاتی شول . هغه مې وړمه ورځ را په شا کړل او په کور کښې می واچول . په یوشی چه می طبیعت سم دی هغه دادی چه سږ کال می

پوروړی دستی له لاسه نه نیسی اوشی راڅخه نه غواړی . ځکه چه مغو ددوو کسو چه خورا په اورسوی واو پورئی هم لږ شانته ځنډېدلی دی په دغو وختو کښی یوڅه مال کوز ملك ته وړی دی، اوتراوسه پوری بېرته ندې را کرزېدلی . ترڅو چه دوی بېرته راستنېږی گوندی یا به زه مړ اویا به مې له دې کلی څخه کومی بلې خواته سترگی نهامی کړی وی .

(پړانگی ومسل اود واړه لاسونه ئی پورته وغزول اوخپله ستړیائی و کښله اوپه صاف اولږڅه لوړزغ ئی ورته وویل: (بی حاصله کېږه مه! تا پخپله ویل چه په هرحال باید سړی شکرو کاږی . داچه دستی چاترلاس نه ئی نیولی لویه خبره ده اوخوراستر نعمت دی . ته ئی ولی غم کوی ه

دوی خویندی لرې، ژربه درلوئی شی اوښه غټ ولور به پرې واخلی. بیا کولای شی چه په هغو پیسو یوڅه ځمکه رانیسی او ټول عمر په هوسائی په خپله ځمکه تېر کړی اوله دغو خواریو اومشالفتو څخه خلاص شي .)

دپړانگی د څنگ سړی (لالو لالا) پررازغ کړل چه : سېټ دی ! سېټ داسې دوې خویندې مې درلودای لکه دی چه ئی لری والله که مې یوه شپه هم وچه ډوډی خوړلی وای . زمونږ په شان خونه دی چه دولور ور کولو په مشالفت اخته شوی وی . اوه ! خدای دې دتوړی هر هډ په دوزخ کښې واچوی زما اود کوږدې سره څه مناسب ؟ خوار سړی اوبرگ ئې سپی. اوس دونه پیټی نشوای وړای ، بوې خواته مې مخه چاته نه اوړی، او نه و لور ور کولای شم — اونه ئې پرېښودلای شم ځکه چه ټول خلك به مې په لعنت سترگې و کاږی - اوه - خدایه! څومره منحوسه ورځ وه چه

زماد کوزدې ټکان و کړل زمانه هیریږی چه سپین ږیری اکامی راته ویل چه داښادی ټکان نه دی بلکه د یو سترغم د را ملو اعلامیه ده. ځکه دولور دادومره دروند پیټی څوك پراوږو اخستلای شی رښتیا چه دده خبره شوه.

(بنګ) له دغه سړی سره دهمدردۍ اظهار و کړاو داچه داغمونه اودرانه پیټی ټول زلمیان پرغاړه وړونکی دی، ور ته وویل بیا بنګ دیو بل سړی په ځواب کښې وویل چه غواړم ژر ولاړ شم اودا څو دانی غنم د سپین سری موراوخویندو دسړوشپو شومه کړم اوبه خپله غواړم چه د قندها ښارته ولاړشم اوهلته خپل نس واړوم اوهم که وشوڅو پوښ راوړم، اوس یواځی دی ته معطل یم چه یو څه بوټی کور ته راوړم، مسجد، ملا، اوخان کره یوڅه بوټې یوسم یعنی د هغوی دیوتو دشورورځی تیری کړم، که نه وی بیا به هغسی لړیکې راته جوړ کړی لکه چه پروسبز کال ئې راته جوړ کړی وو، او ډیری شپې می له هغو څخه ځان نشوخلاصولای دوی داخبری سرو کولې چه د آسانو شیشنهارشو اوخورادوړی ولاړیږی په یوه ګړۍ کښې سپاره راښکاره شول دچاخولې په سروی اودچاښې نوی لنګۍ اوچادرشۍ کړی وی اوچاخړ کالی اغوستی وو تو او وپیژندل چه دغه سپایان دی اودچادعرض کولو له کبله راغلې دی ټول پنځه کسه سپاره دی چه دمسجدو دیوال محی ته رانږدی شول، نو یو سپین ږیری پر ضرینو ږغ و کړ چه دمحصلا نواسان ونیسیء سمدستی نیالۍ او بالښتونه راوړل شول او نسبتاً په یولوړ ځای باندی د دوی دپاره نیالی وا چولی شوې یو سپین ږیری وویل چه علا قدار صاحب در بر مخ شه په داسی حال کښی چه

ټول په پسې وو علاقه دار مرنیالیو کښې ناست او شاؤ خوائی و کتل ، دری کسه محصلان ورته دنیاوس په حال ولاړ دی .

دعلاقه داری (میرزا صاحب) څو کسو سپین ږیرو ته چه څوك ورته ولاړو او چا خپل څادر تر ځان لاندی کړ او مخا مخ ورته ناست وو ، وویل چه: (مونږ خو ستړې شوی یو تو له لاره مو په یوه سار او هلې ده په تیره دعلاقه دار صاحب رګونه خود آس د سپارلی په اثر وچ کلك دریدلې دی تاسې ولټوی او په یو دوو چینی غټو کاسو کښې یو څه ښې تودی شیدی چه غوړی او بوره هم په کډه وی راوړی چه لږ څه خو مو دور نو او اوږو کوفت وخیژې .

په دی حال کښې ملك صاحب راغی او علاقه دار اوچت ورته ولاړ شو او په غیږ ئې روغبړ ورسره وکړ ملك دعلاقه دار تر څنګ کښې ناست او په یوه غوړه لهجه ئې له علاقه دار نه پوښتنه وکړه چه: خیر خوؤ علاقه دار صاحب څرنګه او دڅه شې دپاره مو زحمت کښلی دی ،

معلومه شوه چه (پخوانې ملا صاحب) پرټول کلې باندی چه دده حق ئی پوره ندی ور کړی عرض کړی دی . علاقه دار ملك ته وویل: چه (علماء خو ددین ستنی دی ، که ددوی سره مرسته او کومك و نه شی او با څه نا څه خپل حق ورنه کړی شی نو دوی خواران خو به بربادشی . مونږ او تاسو ته لازمه ده چه ددین ستنی تل ټینګی وساتو ، ځکه چه مه اوریدلی دی چه دهمدوی تر پښو لاندی جنتونه براته دی . دملك په امر دعلاقه دار دپاره سمدلاسه یو پسه او هم دوه درې چرګان حلال شول او په خورا برم دیګونه باندی شول . ما ښاام یو څو تنه

سپین زیری چه دملك نیتیان او په کلی کښی شتمن بلل کېدل راو بلل شول او په خورا خوشحالۍ مجلله میلمستیا وخوړل شوه. وروسته تر دوډۍ ملك وویل چه: (علاقه دار صاحب) اخدای دي تاسی زمونږ له سره نه کموی که تاسو دچا دحقو قو پوښتنه ونه کړیء ولس به سره وخوری او هېڅوك به دچا په حق قائل نه شي، مونږ په خپل (پخوانی ملا صاحب) خوشی نه پرېږدو او قانع به ئی کړو. تاسو دخپل راتګ او ددې دومره زحمت ایستلو په مقابل کښی خپله لنګۍ وا خلیء او که بل کوم مانع نه وی نو سهار دخیره سره خپل مرکز ته تشریف یوسیء ځکه چه زمونږ کلی ډېر خوار دی او په خلکو پوری څه نشته چه تاسی ته ستاسو له مقام او حیثیت سره سم میلمستیاوي در کړی.

بیا علاقه دار او ملك دواړه یوې بلې کوټی ته ننوتل او وروسته له یو څو دقیقو بېرته راووتل. ملك حاضرینو ته وویل چه: علاقه دار صاحب خورا ښه سړی او خان زاده دی. زړه سواندی هم ډېر دی، داسی فیصله وشوه چه د کور په سرباندی به یو من غنم د علاقه دار صاحب دپاره ټولوو او ده ته به ئی دمیلمستیا په ډول ورکوو ځکه چه مونږ دده میلمستیا ښه ورنه کړی شوی ه او هم باید دهر بالغ نارینه سړی به سرباندی دوه ګون نوټ (پخوانی ملا صاحب) ته ټول کړو، او هغه به هم په دغه ټوګه خوشحاله کوو، او په دغه ترتیب به جنجال خلاصوو.

په ځینه حاضرینو کښی ګونګسی شو او په دغه خبره ئی اعتراض وکړ چه دا دونه بار نشی وړای، خو ددې دپاره چه دا اعتراض عمومیت پیدا نه کړی سمدلاسه دملك په اشاره یو دوه تنه زلمیان را و پرزول شول او په دغه نامه چه سپین سترګی

دی دمحصلانو له خوا ښه وډبول شو او نورو تښتېدل او په دې تو گه هغه تجویز عملی او غنم راغونډ کړی شول. ټول (٥٤) منه غنم شول چه د (٢٥) منو غنمو قیمت علاقه دار او د (١٥) منو (سرک تب) او د (١٤) منو قیمت ملك واخیست. تقریباً درې نیم سوه (٣٥٠) افغانۍ (پخوانی ملا صاحب) ته ټولی شوې چه په هغه کښی هم ملك خپله برخه وکړه، او په دې تو گه دا معامله سر ته ورسېدله او کلی له غمونو څخه خلاص شو.

په دغه ډول د بنگ خوارکی له کالنی حاصلاتو څخه یو بل من غنم هم کم شول چه دده او دده دموریه زړه ئی تورداغ کښېښود. بنگ له خانه سره فکرو کړ چه په هره تو گه سره چه وی باید ژر تر ژره له دې کلی څخه پښې وکاږی او بل ځای ته شیوه شی. نو لومړی ملا ته ورغی او ورته ئې وویل: چه ملا صاحب زه غواړم چه ژر له دغه ځای نه ولاړ شم او تر پسرلی پوری سترگی نهامی کړم نو که ما ته اجازه راکړی، چه زه دوه درې غوزی بوټی دمسجد دپاره راوړم نو ښه به وی چه په دغه ډول دمسجد حق برځای کړم او په همدغه ډول ئې دملك کره دوه درې غوزی بوټی وروړل او ځان ئی ددی له آینده ملامتی او جزا نه خلاص کړ (بنگ) دخپل عزم نه (پرانگی) ته هم خبر ور کړ. هغه یو څه په خشونت او زړور تیا سره ورته وویل چه نه به خواستغی کښی ځو ورځی و د ریږه او له نورو خلکو سره لاړ شه چه هغه هم تاغندی دنس اړو لو دپاره نورو ځا یو ته درومی او پرمړی او ژوندی خو به دی خپل خلك حاضر وی خوده وروسته تر هغو چه څو معاذیر ئی وویل له پرانگی څخه بیله دې چه دهغه خوښی او رضا و گوری درخصتیدو په هڅه راولاړ شو.

د بنګ مور یو څه نینی ور کړی وی او هم ئی یو څه وچ توت په نینو کښی ور ګډ کړی وو. او په بنی کښی ئی د ده له زړو کالو سره یو ځای ایښی دی ما ښام ئی مور سوک سرک لری او دستر ګو او ښکی په دواړو ګو تو پا کوی (بنګ چه په خو نه ور ننووت له مور څخه ئی د ژړا علت و پوښت هغی د ژړا په حال کښی په ژړغونکی زغ ور ته وویل چه. یو سر ئی د ښمنان مو ډیر دی ولی به نه ژاړم ته یو اځی درومی زما زړه به تر هغه پوری په هواوی تر څو چه ته بېر ته را ګرزی. بی کسی زور غواړی چار چاپېره را ته لیوان ناست دی هر یو دغو دوو نجونو ته ستر ګی ردی نیولی دی چه په څه ډول ئی لولپه کړی او درانده ولوورونه پری واخلی زو یه یو څه له ځان سره پام کوه تل پرلاری په یو کلی کښی شپه کوه د شپی مزل مکوه کوښښ و کړه چه پرلاری. ملګری مو نده کړی. آه خدایه ته زما د زوی نګهبان شی د دی الفاظ و په ویلو سره ئی مور په ورټ ورټ وژړل او دواړو نجونو هم چه نه پوهیدلی چه مور ئی څه وائی په ژړا شوی بنګ ډیر کوښش و کړ چه خپل مور او دواړه خو بندی دلاسا کړی. او دوی ته ډاډ ور کړی مور ئی به ژړا کښی وویل چه (خپله نیستی او خواری مې ژړوی که مونږ د سړو شپو (ژمی) څوری (آزوقه) در لو دای نو ولی به را څخه دستر ګو تو رجلا کیده. که مونږ خپل یو څه پټی در لو دلای نو ولی به دا حال وای ستا پلار ته به مې تل ویل چه سړیه د هلک د پاره یو څه ځمکه واخله سبا به مړ ئی بیا به دی زوی در په در او حجره په حجره ګرزی، ده نه یو اځی ځمکه وا نه خستله بلکه هغه نیم من تخم ریز چه ئی در لود هغه ئی هم دلاسه ور کړاوس دغه دی هغه زما خبره شوه خدای خبر دی په کوم. مسجد

او یا په کومه شیله کښې به دی ساوخیږی ، او ه لو یه خدایه چه خولې دی را کولی خورزق به دی هم ور سره را کاوه داڅه حال دی . . . . . ؟

یوه کړۍ وروسته ئې مور یوې اورته وویل ورشه هغه د خیرات لټرغوښې چه یاتې شوی دی په کټۍ کښې واچوه چه تر سهاره پوری پخې شي هلك چه ځې باید دلومړۍ غرمې گوله گۍ خونرملا وتړی وروسته ترهغه چه هر څو په لوږی ورباندی راځی راځی به .

خدای دې مل شی .

سهار شو ، عادتاً چه مسافر له کوره وځی د کلی سپین ږیری او نور د مسافر خپل خپلوان او کهولو نه له کلی نه دباندی راوځی او د خدای په امانۍ دپاره یوه لویه ډله جوړه شی . هر مسافر د قران شریف نه لاندی تېروی او بیا هر یو د خپلو خپلوانو او نورو حاضرینو سره دستر گو په اشاره او د سر په کښ ولو خدای په امانی کوی ، په دې حال کښی دوړو ـ ښځو ـ سپین ږیرو دژړا زوږ پورته شی . او د فراق اثرات دومره ژور او درانده نه وی ، ځکه چه هر څوك د خپلو خپلوانو د فراق په درداخته وی ، او څوك پخپل غم کښی یواځی نه وی خوله دې کبله چه (بنگ) تر نورو مسافرو د مخه اووختی ځی نو دده د خدای په امانۍ دپاره غیر دده له مور ، او ددوو خویند و او یوې توړۍ نه بل څوك نه وو راغلی . د (بنگ) مور داله خپلې بی کسۍ نه انگیری او له ستر گوئی او ښکی داسې راخوټ کېږی لکه چینه . د خدای په امانۍ مراسم ددوی د خپلې خونی له مخه اجرا کېږی . تولی څلور نجونی او ښځی دی او (بنگ) ئی په منځ کښی ولاړ دی ملا تړی .

مورئی (بنگ) ته وویل چه زویه بوارورشه دملك اوملا صاحب نه رخصت راواخله ځکه چه هره کړی مولاس ترلاندی دی او بیا کش را سره کوی مړی ؤژوندی او ښه او بده پېښېږی اوپه کوچنۍ او نه څه خبره باندی مو ځوروی هغه تیر کال دې نه دی به یاد چه پخپله تاته ئی څومره آزار در کړ اوهره پلا به ئی درته ویل چد دحقدار حق نه پېږنې اودمشر مشروالی نه هیڅ غاړه نه زدې. دوې شیر آوری وزې ئی په (غم) کښی نه راڅخه بوتلې ؟

(بنگ) دمور نصحیت ښه ومانه او بنۍ ئی هلته دخونی له مخې سره پرېښود له اوپه منډه دملك کره ورغی د ملك ناظر ورته وویل چه طالع دی بیدار دی خان صاحب اوس دستی راوځی او کومې خواته ځی. دغه دی آس ئی زین کړی ولاړ دی هغه ؤ چه ملك راووت او (بنگ) ئی پرلاس ورحمله کړه او هغه ئی خپلی خولی ته دښکلو دپاره نژدی کړ ملك ورته وویل چه : (کومی خواته لکه چه بیا سترگی نهامه وی . خدای مو خوار کړه ! تاسو ولاړ شی او خپل غمونه او جنجالونه ټول مو تېزته را پرېږدی په کلی کښی خوشل ماتی گوډی پېښېږی او ددی ترله اړول خودونه آسانه کارندی. ورشه یو څوروبۍ راوړه او دلته ئې له ما سره کښېږده ځه که کومه خبره پښېدله په هغی کښی به ئی درمجرا کړم ، که په ما باندی دی اعتبار نه وی له خپلی مور سره ئی کښېږده پرو سبز کال خومی ډیره در ته وسهله او ستا ټول غمونه می پری کړل او بیا می په هغه کښې په څه خوار یو دوې وزې در څخه بوتلی چه مور او دواړو خویندو دی پروژړل . دادرته وایم چه که دی سبز کال په گور کښی پیسی نه وی پری ایښې او غم در باندی راغی نو یقین و کړه چه بوه خور به دی چاته

ور کړم او دهغی دواور څخه به خپله غاړه وباسم اهغه وخت به دی بیا څه
کیله نه وی.)

(بنګ) ورته مزغی (معزی) کوږنیولی ؤ او به خوراژړغونکی خو به ژورزغ
ئی ورته وویل چه: ته مومورؤ بلار بللې: هر څه چه ته کوی او کول دی
مونږ مخی ته نه در تلو خو داچه زمونږ دوی لنګی وزی چه هغه زمونږ لوغزه
وه بوتلی او مونږ دی په وچ حلق پرېښودلو: تر ډېرو پوری به موهېر نشی
ځکه چه ټول دوبی مونږ له نورو کورو څخه شلومبی راوړی او تودوخه مو به
خورا زحمت سره تېره کړ هیله ده چه سږ کال په ښه خواری واوړم او دومره
وګټم چه ستا غاړه بری وباسم)

ده چه خپله خبره خلاصو له دملك ناظر پری رامنډه کړه او غو ښتل ئی
چه دده ددی بی ادبی نتیجه په لاس ور کړی او پرمخ ئی په څپېړه ووهی
خو ملك ورته وویل: چه (ددی سپین ستر ګی قصور به هغه وخت ور ځنی
اخلو چه دی له مسافری نه بېرته کورته راو ګرځی اوس څه مه ورته وایه ځکه
چه په مسافری ځی او بیا به ئی ټول وخت په خواشینی تېر ېږی. زه خو هم
داسی بی رحمه سړی نه یم. د مال عل به ئی یم مګر دسر بی خبری خو ئی نه غواړم
ځکه چه دا دهمدوی برکت دی چه غنم می په خو نو کښی نه ځائېږی او علاقه
درؤ حاکم راته په درنه ستر که ګوری. هلك دی یوه خبره ئی وکړه ودی
ګړی. په پسرلی به دغوږو پیچ ور کړم) ملك آس ته پونده ور کړه او به
داسی حال کښی چه غمچینه ئی په هواښورو له ستر ګو پناه شو (بنګ) ژر
د ملك د کور له مخی دملاوره ته ورغی او احوال ئی ور کړ چه ده خدای به امانی

دپاره راغلی دی . ملا به بیره راووت او ورته ئی وویل چه (دا ته څر نګه په مسافرۍ ځې؟ نه دې سپین زیری. نه دی تور زیری نه دې عالم او نه دې پیر درو بالـ تا خو باید یوه کاسه تیاره کړی وای او دا پنځه کسه د آب خاوندان به دې غوښتی وای او دهغوی دعا به دې اخستی وای چه خدای له مسافرۍ څخه ښه ګټه در کړی وای ! نور که دې له وسه نکېدل دو نه خو به دې کړی وای چه خپل عالم او پیش امام دې در غوښتی وای او په لاس باندی دې او به ور اچولی وای په رښتیا چه آخره زمانه ده او د غلماو قدر کم دی ، که نه وی خو چه دال فقیری دې کولای هم یوه کاسه خو به دې تیاره کړی وای ')

(بنګ) دا عذر ووایه چه سږ کال ئی هیڅ قروت (کرت) او غوړی ندی کړی او دا چه لوغزه ئی ملك ورځنی بیولې وه، او هم دا چه په کور کښی هیڅ شی نه لری، ختی په خونه کښی ئې لوخې اچولی او په هغو باندی بېدېږی . او هم ئی دا ورته وویل چه له ډېری نیستۍ او مجبورۍ له امله دومره و ختی په سفر در ومی او ستر ګی نهامی وی . خو ملا ورته وویل چه: (زه دې څه کوم پخپله به ښه ښکاره شوی وای . په دې کلی او نورو کلیو کښی ستا په شان ډېر خلك شته ، مګر هغوی داسې د سپی پوست والله که پرمخ غوړولی وی لکه تا چه په مخ غوړولی دی . په اصل کښی د علماوو په قدر نه پوهېږی ! ورو سته له یو څه مکت څخه ئی بیا ورته وویل چه: ځه هر څه چه کوی کوه ئی خو دومره درته وایم چه: لومړی یو څه سپین سان پخپل کور کښی او یا ئی زمونږ کره کښېږده . ځکه مرګ او ژوند سره تړلی دی، نه ویل کېږی په کار شی موردی سپین سرې ده . بیا به څوك په کفن مفن پسی ګرځی . بل دا چه له

دپردی خبری

ترڅو چه دښځو مخونه پټ وي خبري به هم په پرده کښې وي، ځکه چه په پښتو کښې خبره هم مونثه ده، یوازی خبره لاڅه چه ژبه، وینا، معنی، خطابه، مقاله هم د تأنیث علامې لری.

هغه وینا چه ابتکار په کښې وی دادب پردې ته لاډېر ضرورت لری.

تاسې زما خبرو ته لږ غوندې باریک شیء!

دادب او سیاست خبره ډیره باریکه ده.

زه په ډیره نرۍ او باریکه لار لاړم، خدای دې وکړی چه ډېر باریک بین خلک په دغه لار راشی او په ځیر ځیر وګوری.

ما او ښان نه دی بار کړی زما قافله دمچیو ده، چه د ګلو نو له پاڼو نه په هوا څه راوړی او عسل جوړوی، له دې قافلې سره د سباوزمو خوشبوئې بار کړې ده چه څوک ئې په ستر ګو نه وینی مګر حساس د ماغونه ئې احساس کولی شی.

هو! زما کار له احساس سره دی، زما خریدار باید ډېر حساس وی یا ډېر حساس شی،

(غوره نثرونه)

دپښتو ټولنې دتیر کال خپرونې

۱: لوړ خیالو نه اوژور فکرونه

۲: داور لمبې

۳: پښتانه داقبال په نظر کښې

٤: منطق

٥: افغان قاموس

٦: پښتو نثرونه

۷: پریشانه افکار:

۸: نړۍ په دوه زرم کال کښې

۹: افغان قاموس دوهم ټوک

۱۰: دحنان دیوان

نوی چاپ شوی کتابونه

۱: پښتنې دودونه

۲: غوره نثرونه مؤلف ښاغلی الفت

کابل مجله

تاسې کولای شئ چه په کابل کښې په (٤٠) افغانۍ په د ننه هیواد کښې په (٤٤) افغانۍ په هند کښې په (۱۲) کلداری په نورو دباندنیو هیوادونو کښې په (۳) دالره لاس ته راولئ

دښوونځیو زده کونکو ته په نیمه بیه.

دبوه کال داشتراک دپاره په کابل کښې همدغه بیه دپښتو ټولنې دمحاسبې مدیریت ته اوپه ولایاتو کښې دهمدې مؤسسې دجاری شمېر په (۷۸۷٥) لمبر افغانستان بانک ته سپارل کېږی

دولتی مطبعه